١٢٥

ادرس ښوونځوانه، د ابن سینا واټ تلګرافي عنوان: کابل، انجمن ټولنه لکونه و ع، عبدالرحمن خان «پژواك» د پښتو ټولنې عمومي مدیر ته کېږي.

کابل

(میاشتنۍ مصوره مجله)

(ادبي، اجتماعي، تاریخي)

د پښتو ټولنې د صحافت له خانګې څخه خپرېږي

اشتراک

کابل: ۲۴ افغانۍ

دننه مینه ۲۶ «

دباندې ۱ سترلنګ پونډ

د ښوونځیوزده کوونکو ته ۱۴ افغانۍ

۱۱ کال . . . اسد د میاشتې جولائي ۱۳۲۰ - ۱۹۴۱ ع، (۵) ګڼه

د دې ګڼې لیکونه

لیك	لیکونکی	مخ
ـ د پښتو ټولنې هیلې	ښاغلی «پژواك»	۱
ادب یا ښه خوی	« «ایازی»	۲
د کوچنیانو تربیه د خپل پلار او مور په ذمه ده	« «نظامي»	۵
د کور زیرمه د هلکانو په پالنه کښې	« سلطان محمد خان	۷
ـ د پښتون زلمي وینا	« «بینوا»	۸
ـ زموږ مندي یا د پښتانه ښځې	« «واسعي»	۹
غزل	« «پژواك»	۱۰
ـ خپله ژبه	« «جرار»	۱۱
زوړ افغانستان	« «کهزاد»	۱۲
د لغاتو انواع	« «رشتین»	۱۵
د خو ضمایرو استعمال	« «جرار»	۱۷
ـ ژبه	« عزیز الرحمن خان	۱۹
ـ د پښتو د تدریسي هفتې افتتاح	شعبهٔ صحافت	۲۱
ـ «د ژبې تدریس د پښتنو په مناطقو کښې	ښاغلی محمد نبي خان	«
ـ « « « « «	« محمد انور خان	۲۳
ـ « « « « «	« منهاج الدین خان	۲۵
ـ خان میر	« «جرار»	۲۸
د پخوانیو مشاعره	« «رشتین	۳۰
د ادب ګلونه	د « «رشتیا» ترجمه	۳۳
سرپټوب او حیوانتوب	« « «	۳۴
ـ ستیاز څنګه فریتاز جوړ کې	« «خوږ من» «	۳۶
په پښتو ټولنه کښې لویه جرګه	د صحافت څانګه	۳۹
د هرات د ادبي مجلې لسم کال	« «	۴۰
د ندای حرم رساله	« «	«
د ښاغلي «تره کي» ته خدای په امانی	« «	«

عکسونه (۴) قطعه

Kabul

Revue mensuelle scientifique, historique, littéraire, publiée par la section des publications et de la presse de l'Académie Afghane.

Abonnements :	ville de Kaboul	1 an	12 afgs.
	Provinces d'Afghanistan	«	14 «
	Etranger	«	10 S

No. 125 Juillet

اعلانونه

سالنامه‌های کابل

۱	سالنامه سال اول سنه ۱۳۱۱	در کابل ۳ ونیم	افغانی در ولایات	٤ افغانی	در خارج سه کلدار
۲	« « دوم سنه ۱٤۱۲	« ٦ «	«	۷	ده شلنگ
۳	« « سوم سنه ۱۲۱۳	« ٥ونیم «	«	٦ونیم «	«
٤	« « چهارم سنه ۱۳۱٤	« ٦	«	٦ «	«
٥	« « پنجم « ۱۳۱٥	« ٤	«	٤ونیم «	«
٦	« « ششم « ۱۳۱٦	« ۱۰	«	۱۲ «	«
۷	« « هفتم « ۱۳۱۷	« ۱۸	«	۲۱ «	«

کلکسیون های مجلهٔ کابل

کلکسیون‌های سال اول ودوم وسوم فی جلد در کابل ۱٤ ، درولایات ۱٦ افغانی درخارج ده‌شلنگ

٦ کلکسیون های سال چهارم وپنجم وششم مجلهٔ کابل یکدورهٔ آن در دوجلد قیمت آن در کابل ۱۷ افغانی ، در ولایات ۱۸ افغانی ، در خارج ده‌شلنگ .

کتبیکه در انجمن برای فروش حاضر است

۱ـ	شرح حال سید جمال‌الدین افغان	در کابل		۷٥ پول
۲ـ	منتخبات بوستان	« «	۲ افغانی	۳٦ پول
۳ـ	آثار بودائی بامیان	« «	۳ «	۲٥ «
٤ـ	سخندان فارس	« «	۳ «	
٥ـ	شعرالعجم	« «	۲ «	
٦ـ	آثار عتیقهٔ کوتل خیرخانه	« «	۱ «	
۷ـ	صنعت باختر (بفارسی وفرانسه)	« «	۱ «	
۸ـ	فضیلت	« «	۲ «	
۹ـ	مسکوکات قدیم افغانستان	« «		۷۰ پول
۱۰ـ	خواطر قهرمان کبیر	« «	۱ «	٤۰ «
۱۱ـ	د کچنیانو اخلاقی پالنه	« «	۱ «	
۱۲ـ	بگرام	« «	۱ «	۱۰ «
۱۳ـ	نیکبختی	« «	۱ «	٦ «
۱٤ـ	د پښتولیك ښوونکی	« «	۲ «	
۱٥ـ	پښتو متلونه	« «	۱ «	۲۲ «
۱٦ـ	امپراطوری کوشان	« «		۹۰
۱۷ـ	پښتو ازنقطه نظر فقه اللغه	« «		۸۰ «

د پښتو ټولنې هیلې

ښاغلی عبدالرحمن خان «پژواك»

ددې مجلې ښاغلی لوستونکی اوهغه کسان چه د پښتو سره مینه لری او زړو نه ئې دفطرت په تقاضا د ملی جذباتو اودپښتنوالی داحساساتو څخه ډك دی ښه خبر دی چه دځلمی ټولو اك حکومت ترو سعی او توانه پوری دهر پښتون دتوقع نه زیات ملی ژبی ته توجه کوی اوددې ژبی دلوړتیا دپاره هرراز مفید اقدامات جاری ساتی .

د پښتو ژبه څر نګه چه د ګر دو پښتنو ژبه ده په ګردو پښتنو باندی دخدمت او روز نی حق لری . او داحق داسی ثابت اومسلم حق دی چه هیڅوك به تری انکار ونشی کړی .

اوس داخبره کوو چه د پښتو دخدمت مرکز پښتو ټولنه ده نوهرهغه څوك چه غواړی صحیح اواساسی خدمت دپښتو دپاره وکی هرومرو به پښتو ټولنې سره مرسته کوی اوپښتو ټولنه حاضره ده چه دهغه ښاغلو مرستی دامتنان اوقدر په نظر وګوری ، اوددوی مادی اومعنوی حقوق په ځای کړی ځمونږ موجوده پښتانه علما اوفضلا په دوه برخو ویشل کیږی یو هغه فاضلان پښتانه دی چه په پښتو پوهیږی اوښکل لیکل کولی شی او یوهاغه پښتانه دی چه متاسفانه پښتوئی هیره شوی ده . دو همه برخه ترڅو چه خپل ځان دپښتو خدمت ته په پښتو تیارکی بایده ده چه خپل آثار اوافکار بی اثره او بیفایدی او بیکاره پری نه دی . پښتو ټولنه تیاره ده چه ددوی آثار پښتو کی او ددوی په خو ښه ئی نشر او خپاره کاندی . ځمونږ ډیر امید اوانتظار ودی برخی ته دی ولی چه لمړی برخه په خپله بی دویلو څخه د پښتو خدمت ته تیاره او آماده ده . او بی لدی خدمت څخه هغوی ل مهم خدمت نه لری .

هغه پښتانه چه نن ئی د پښتو دژبی قلم په لاس کښی دی هرقسم فدا کاری اوایثار ته حاضردی . دوی خپل نوم او خپل شهرت نه غواړی دوی دپښتو د نامه او دشهرت دپاره هرشی په ځان منی اومنلی ئی دی .

اوس څرنګه چه مونږ حاضر شوی یوچه په اخلاص دفضلاو لمن ونیسو هیله لرو چه مونږ ته مثبت او ځمونږ دتوقع اوهیلی سره سم او موافق ځوابونه را کړی شی دپښتوټولنی ارماندونه ډیردی اودومره ډیردی چه بی له دی چه څوك دپښتو ټولنی په زړه کښی ورنه نه وزی په هغو باندی نه خبریږی . مونږ توقع لرو چه په هرځای کښی په وطن دننه یاد وطن نه بهر کوم عالم پښتون وی خپل نظریات ، خپل افکار ، خپل آثار په پښتو یاپارسی مونږ ته راولیږی . نومونږئی په ډیر احترام قبلوودومره ده چه مونږ خپله مجله کښی دپارسی برخه نلرو نوهغه آثار او نظریات چه مونږ ته په پارسی رسیږی هغه به پښتو کوو او بیا به ئی خپروو څرګنده ده چه دلیکونکی حق ثابت دی او ثابت حق تل ساتل کیږی . هغه آثار چه په پارسی رارسیږی نودلیکونکی په نامه به نشر یږی .

دځمونږ زغ دزړه زغ دی اوهیله لرو چه په زړو کښی اغیزه وکی اوپه زړه ومنل شی اوکه «دمور زړه په زوی اودزوی زړه په وچ کانی شی» نو هلته به مونږ ګرد مطالب هغه لویو مسئولیتو نو ته چه د ملیت او ضمیر له خوا په مخکی دی وسپارو .

په پای کښی دپښتو دفضلاو څخه امیند لرو چه خپل آثار نظم اونثر دکابل مجلی ته راولیږی او دامجله چه نن ورځ په دی محیط کښی یوه مجله ده چه پس لدی به په پښتو خپریږی د مضمون له احتیاجه خلاصه اوبی پروا کړی .

اجتماعیات

ادب یا ښه خوی

محمد اعظم ایازی

ادب او ښه خوی یو داسی قوت دی ، چه انسان په هغه سره هر ډول سخت زړه نرمولای سی . او هر مشکل کار په اسانی لاس ته راوستلای سی ، ښه خوی دانسان دپاره یو لازمی صنعت دی ، هر انسان ، که ښځه وی که نر ، چه ددې صنعت څخه عاری وی ، نه ښائی ، چه هغه ته انسان وویل سی ، ځکه چه ، په ده کښې انسانی مینه او عامه همدردی نه وی ، او دانسانیت ددرجې څخه لوېدلی وی .

دښه خوی فقط دا اثر نه وی ، چه انسان دنورو زړونه ځان ته را کښې کی ، بلکه دانسان پر صحت او وضعیت باندی هم ډېر اثر اچوی ، ولی چه دښه خوی خاوند ، دخپل ښه خوی په سبب تل خوشال وی ، او دا ثابته ده چه خوشالی دانسان پر صحت باندی ډېر ښه اثر کوی ، خوش خلق سړی دګلاب په شان وی ، څه خبری چه ئې دخولې څخه راوزی ، دګلاب دبوی په شان اثر کوی او دا اوریدونکو زړو نه وخپل ځان ته راکشوی .

په خوش اخلاقی کښې یو داسی مقناطیسی اثر وی ، چه دخلقو زړونه خود بخود خپل ځان ته راجلبوی خوش اخلاقه ښځه دمېړه دپاره یو لوی نعمت وی ، دغه رنګه خوش خلق سړی (مېړه) دماندینی دپاره دآرامی او هوسا ګلوی سبب وی ، نیک مرغه دی هغه کور ، چه مېړه او ماندینه دواړه په کښې دښه خوی خاوندان وی ، هغه کور دیوشین باغ په شان وی ، هر څوك چه په کښې داخل سی ، زړه ئې باغ باغ کیږی ، او ددنیا ټولی دندې ځنی هیری سی ، کچنیان ئې دخوش آوازو مرغانو په شان وی . چه په خوږو ناروئې دانسان زړه خوشالیږی ، افسوس دی پر هغه کور ، چه ټول افرادئې په بدو خویو اخته وی ، داسې کور په ژوندون کښې دد وږخ یوه نمونه وی ، شپه ورځ په کښې جګړې وی ، مېړه پر ماندینې په قهر وی ، او ماندینه دمېړه څخه په تنګه اوبیزاره وی ، هلکان ئې یو وبل ته ښکنځل کوی ، لنډه داچه ټوله محله ځنی په تنګه وی .

بد اخلاق سړی نه خپل ځان او نه بل څوك خوشال ساتلای سی ، ټول خلق دنفرت په سترګه ورته ګوری ، تل ناکام او بی عزت وی ، هیڅوك اعتبار پر کولای نه سی ، او دجامعی دپاره مضر ثابتیږی ، دبی ادب هلك څخه تل مور او پلار ، استا ذان او مشران ناراض اوبیزاره وی ، او تل په خواری او تکلیف اخته وی ، هیڅوك مرسته ورسره نه کوی ، او نه ئې ښېګړه غواړی ، بلکه خدای تعالی هم دبی ادب سړی څخه بیزاره وی .

خوش خلق او با ادب خلق تل خوشال وی ، او هر څوك دمینی او عزت په نظر ورته ګوری ، او دهرچا په زړو کښې خوازه او ګران وی ، دنیاوی تکلیفونه ډېر لږ و رپېښیږی ، ټول خلق ئې مرسته او ستاینه کوی ، اقربا او خو یشان ځنی راضی وی ، بزرګان او لویان دعا ورته کوی ، حکومت په ښه او درنه سترګه ورته ګوری ، په سیالانو کښې سرلوړی وی ، مور او پلار ځنی خوشال وی ، او تل دعا ورته کوی او پر مهربان وی ، لنډه داچه دوست او دښمن ئې ښېګړه غواړی او ځنی راضی وی ، ځکه چه انسان فطرتاً دخپل عزت غوښتونکی دی ، نو هر څوك چه دده عزت کوی ، دی هم اخلاقاً مجبوردی چه په درنه سترګه ورته وګوری او ښېګړه ئې وغواړی :

که څه هم ادب او ښه خوی دهرچا دپاره ضروری دی ، لیکن دمکتب دځلمیانو دپاره خودارنګه ضروری دی ، لکه مالګه په خوړو کښې ، ظاهره ده ، چه بی مالګی

خواره هیڅ خوند نه کوی ، که څه هم ښه پاخه سی ، باادب هلکان دخپل ادب په سبب هر ډول کمالات حاصلولای سی، اوولوړو مرتبوته رسېدلای سی ، که دا ښه خوی ددوی په طبیعتو کښې ښه او ټینګ ځای ونیسی ، نو ټول عمر به په عزت او احترام وی ، او دهر چا په زړو کښې به ګران وی استاذ به تل پر مهربان وی ، داولاد په شان به مینه ورسره کوی او دزړه دمینې به ښوونه ورته کوی، مور او پلار به محبت ورسره کوی ، حکومت به ځنی خوشال وی ، او تل به اعتبار پر باندی کوی ، ډېر داسی سوی دی ، چه باادب هلکان دحکومت خاوندان سوی دی او لوړو مرتبوته رسېدلی دی، او بی ادب هلکان مور او پلار عاق کړی دی ، او دکوره ئی ایستلی دی او خپل ټول جایدادئی دبل چا برنامه کړی دی ، دبی ادب هلك څوك دوست نه وی ، هر څوك ئی بدګڼی ، نه غواړی چه ورسره کښېنی ، یائی وځان ته پرېږدی .

په دی کښې هیڅ شك نه سته ، چه دبی ادبو هلکانو په سبب ، دجامعې نور هلکانو ، چه ناسته ولاړه ورسره لری ، بد اخلاق او بی ادب کیږی ، او جامعې ته یو لوی نقصان رسیږی ، ولی چه دا یو متعدی مرض دی چه آخر دجامعې په ټولو افرادو کښې سرایت کوی ، یو ملت چه ترقی کولای نه سی ، لوی سبب ئی هم دغه دی ، ادب دمکتب دهلکانو دپاره یو داسی پسول دی ، چه هر چیری ښایسته په ښکاریږی ، او یوه داسی درسته ده ، چه انسان هر چیری بری په مومی .

افسوس دی چه داوس زمانی ځنی هلکان او نیمګړی تعلیم یافتګان او بی تجربی ځلمیان بی ادبی په خپل خیال سره یوه ازادی ګڼی او دلویانو او مشرانو په مخ کښې بی ادبی کوی ، او وائی ، چه موږ خو دخپلو زړو خیالات بندولای نه سو، موږ خو هغه وایو ، چه زړه موراته وائی ، زموږ ظاهر او باطن خو یو رنګه دی اکثره داسی دی ، چه دانګریزی یا فرانسی دری یا څلور کتابونه ئی لوستی دی ، یا دعلم طبیعی دوی یا دری تجربی ئی زده کړی وی ، بس نو خپل ځانونه حکیمان او فیلسوفان ګڼی او پر هیچا تن نه ایږدی او دبزرګانو پر خبر رباندی خاندی ، داسی دلیلونه وړاندی کوی ، چه دهیچ عطار به قوتی کښې نه وی ، هر که چه پوښتنه ځنی وسی او معقول دلیل ځنی وغوښتنه سی ، نو یعوض ددی چه یو معقول جواب ورکی، حیران پاته سی ، ځنی خو خپلی غلطی ومنی لیکن ځنی لا هغسی پر خپلو خروسپاره وی، او نه ځنی را کښته کیږی ، سره ددی چه نه پوهیږی، بیاهم خپل ځانونه هوښیاران ګڼړی ، او وائی (که همچو من کسی نیست) ، داسی خیالاتو ته هیڅکله ازادی نه ویل کیږی بلکه دا یوه داسی ناپوهی ده ، چه خدای تعالی دی مسلمان ځنی ساتی ، دخیالاتو د آزادی څخه دامقصد نه وی ، چه انسان دی یو بی مهاره اوښ وی او هر څه چه ئی پر خوله راځی هغه دی وائی ، او دادب ددائرې څخه دی دباندی ووزی ، انسان باید په هره خبره کښې دخپلو لویانو او مشرانو دادب اندازه وساتی ، او ددوی دسوال، جواب په ادب او معقوله طریقه ورکی ، او ددوی دمخه په ادب او پته خوله ناست وی ، او بی ځایه ګډ نه وی ، که څه پښتنه ځنی وکی په ادب او سر کښته جواب ورکی ، نه داچه پر هره خبره ددوی سره لج او بی ادبی کوی ، او دادب دکمبلی څخه پښې دباندی غزوی ، داسی آزادی دیو ملت دخرابی سبب ګرزی ، نه ګوری چه ابلیس دخپلی بی ادبی او لجاجت په سبب رانده او مردود سو ، (فاعتبرو یا اولی الا بصار) :

ای دوطن ښاغلو ځلمیانو ! تاسو خو دوطن دباغ غوړ یدلی ګلان یاست ، وطن خو وتاسو ته ډېر امېدونه لری ، که مو په رشتیا په خپلو پاکو او معصومو زړو کښې دخپل ګران وطن مینه وی ، او په رګو کښې مو داسلامی وینی جوش وی ، نو کوښښ کوی چه خپل ښکلی ځانونه دادب او ښو خویو په پسول ښایسته کی ، چه دخدای تعالی او دمخلوقو مقبول سی، او د وطن صادق او ګړندی خدمت ګاران سی .

وروڼو ! ادب او ښه اخلاق یوه داسی درسته ده چه انسان دهغې په واسطه پر هر رنګه غلیم بری موندلای سی ، کوټ، پتلون، کف، کالر او نکټی عارضی شیان دی او دانسان دښېګڼړی سبب نه ګرزی ، دانسان اصلی شرافت په دې شیانو سره نه دی ، دا عارضی شیان دی که وی او که نه وی ، بلکه دانسان اصلی شرافت په علم او ادب سره دی لکه چه مخبر صادق علیه الصلواة و السلام فرمائی (شرافت الانسان بالعلم والادب لا بالمال والنسب) ،

وروڼو ! تر هغه وقت چه دخپلو مذهبی مسائلو او دخپلو بزرګانو داقوالو څخه ښه باخبره نیاست نو دپردو په فریب یا دخپلی ناپوهی په سبب پر خپلو مذهبی مسائلو او دبزرګانو

پراقوالو باندی هیڅکله اعتراض مه کوی ، ولی چه په پټو ستر گو غشی ویشتل دنا پوهانو کار دی ، دخپلو مذهبی احکامو او دبزرگانو داقوالو ډېر احترام کوی ! البته علمی معلومات حاصلول اوفنی تحقیقات کول اوخپل ذهنی اواخلاقی لیاقت زیاتول اوسمه لار غوره کول ، اسلام دهر مسلمان دپاره ضروری او لازمی گرزولی دی ، (العلم فریضة علی کل مسلمه ومسلمة) ، (علم هر چند بیشتر خوانی چون عمل درتو نیست نادانی، نه محقق بود نه دانشمند، چهارپائی برو کتابی چند)؛

ورونړو ! دخپلو موراوپلار اومشرانو ادب کوی ، اوپه ډېر ادب ورسره گرېږی، ددوی ضروری حاجتونه پوره کوی ، اوپه خپل مال اودولت دزړه دمینی مرسته ورسره کوی، هیڅکله داسی وضع اوحرکت درڅخه پېښ نسی ، چه ددوی دنارضامندی سبب وگرزی ، موراوپلار ډېر حق لری ، دخدای تعالی رضامندی ددوی په رضامندی ترلې ده ، دخپلو مشرانو اولویانو خبره اونصیحت اوری اوعمل په کوی ، اوبی ادبی مه ورسره کوی، دخپل ښاغلی پاچامینه اواحترام په خپلو زړو کښې تینگه ساتی او اطاعت ئی دزړه دمینی اوپه تینگه اراده سره کوی ، ولی چه دپاچا مینه او اطاعت داسلام دواجباتو څخه دی ، دخپلو کچنیانو سره مینه کوی اودمسکینانو سره دخپل وس په قرارمرسته کوی ، خپل اسلامی شعار تینگ ساتی اودخپل گران وطن سره مینه لری اوخدمت ئی په رشتیا سره کوی ، اوپه ترقی کښې ئی کوښښ کوی ، (حب الوطن من الایمان) ؛ خپل ځانونه دعلم اوعمل په پسول ښایسته کی ؛

ورونړو ! دنیا دخو ورځو ژوندی ، مېړه هغه دی چه داژوند په ښه ډول سره تیر کی ، انسان باید خپل ژوند په داسی ډول تیر کی ، چه پس له مرگ ئی هر څوك په ښه نامه یاد وی ؛

په خپل گفتار شی

دمات اوښی آواز کله ثابت خیژی
د هر چا عمل خرگند په خپل گفتار شی

هغه زړه به له طوفانه په امان وی
چه کښتی غونډي دخلقو بار بردار شی

(رحمان بابا)

د کوچنیانو تربیه د خپل پلار

او مور په ذمه ده

ښاغلی یار محمد خان « نظامی »

کوچنیان یاد خپلومیند واوپلرو دستر گوتور د کوم وخت څخه چه پیداشی اودژوندون په ډگر پښه کښیږدی دهغې وخته پورې چه دوی دخپل ژوند په دریم دوره کښ پښه ږدی یعنی دمستقل کور اودواده خاوندان کیږی دخپل مور پلار په غاړه ډېرغټ او درانده مسئولیتونه اچه وی، او ددې اجباری تربیت څخه مخ اړول ډېرغټ مسئولیت اولویه سهوه گڼل کیږی .

ځکه د وې بې سترگو اوبې غوږو کوچینی مثال چه دنیست څخه دنیاته راغلی اودمور په غېږ کښ ئې ځای نیولی دی بالکل دهغه کوچینۍ ونی په شان دی چه پاك خدای په خپل قدرت دغه ونه کمال ته ورسه وی اوښې اوخوږې مېوې ورته ورکړی، یعنی که ددې طفل دماغی اوبدنی قواتر یووخته پوری په یوتناسب وپالل شی نوددوی څخه به دکار اولایق او جدی ځوانان جوړ شی .

اوکه ددوی ابتدائی تربیه دمور په لمن کښ د خرافاتو اودروغو اوبیری وغیره سره مخلوطه شی او دوی ناقصه تربیه شی نودغه اطفال به ټنبل اولټ او ضعیف الاراده اوخائن اودروغجن لوی شی .

داطفالو روح په ډېره آسانتیا هرراز تربیه طبعاً په ډېره خوشحالی سره قبلوی اولکه دغذا اونورو خوړلو چښلو په شان دهغې څخه تغذیه مومی او هم په هغه دود لویږی ، هم داسبب دی چه دځلمی توب څخه وروسته دهغه په اخلاقو اوعاداتو وغیره خویونو کښ تغییر راوستل ډېرگران بلکه یوناممکن کاردی، بایددا کوچینی اومعصوم روح په ښه خویونو اولوړو اخلاقو تربیه کړیشی .

ځکه اخلاق هغه شیان دی چه ټول عمردده سره سم اوبی دمرگ څخه ئې ددنیا نورعوارض دده څخه نشی جلا کولې، که موږ دتاریخ پاڼوته رجوع وکړو نوداخبره به راته ښکاره شی چه دپخوانو پېړیو سپین ږیری اومشران په دې مسئله پوه شوی اودې نتیجې ته رسید لی ووچه دخپل تمدن اودودونود ساتنې اودې دپاره چه دنور وقامونو او وحشیانو څخه خپل قام وژغوری ، غوره اوښه طریقه داده چه خپل اولادونه ښه تربیه کړی، او د هغوی په صحیح تعلیم اوتربیه کښ زیار وباسی اوپه پخوانو قامونو کښ ځنی داراز قامونه هم ووچه دخپل اولادونو په روزنه کښ به ئې ډېر زیار ایستلو اوهغوی به ئې دزیار او راتلونکو مبارزو دپاره چمتو کول او دهغوی افعال او اقوال ناسته ولاړه به ئې دنظر لاندی ساتل پخوانو مصریانو به په خپلو اطفالو مجسم سازی ، او فلاحت، او تجارت زده کولو اوپخوانو یونانیانو به خپل کوچنیان په لوږه اوزیار آموخته کول او هغوی به ئې دخپلو رقیبو قامونو سره دجنگ اومبارزی دپاره تیاره ول .

نو په دې کښ شك نشته چه داطفالو تربیه دبشر پخوانۍ وظیفه ده، اوکه نن داتربیه دتازه اصولو اوقوانینو مطابق عملی کړیشی نودکوچینی روح به کامل او متین او طفل به دجامعی دخدمت دپاره قوی او پیاوړی لوی کړی اوکه تربیه ناقصه وی نو کوچینی به هم ضعیف الاراده بی عزمه اودروغجن، بی زړه په راز راز رذالتونو ککړ او په بدو اخلاقو بخت شی .

خلاصه دا چه دطفل مستقبل د یوې اندازې پورې د مندو او پلرو په لاس کښ دی نوکه د چا مور اوپلار دعلم اوتربیی خاوندان او په کار پوه وی نو هغوی دا کولی شی چه د خپل زیار او تربیی په سیورې کښ خپل اولاد دیوښه اوروښانه خاوندان کړی اوهم دغه که کوچنیان دتعلیم اوتربیی څخه برخه ونه لری اوپه دې پوه او خبر نشی چه وطن اوجامعه په ما کوم کوم

حقوق لری په دې صورت کښې غالباً طفل د بد مستقبل اوناوړه اوخراب ژوندون خاوند وی .

هم‌داسبب دی چه نن‌بشر په دې حقیقت پوه شوی دی اوپه دې لارکښې دهیڅ راززیار خخه مخ‌نه‌اړوی.

یوپوه‌سړی ویلی دی : چه طفل دتربیې په واسطه یاخوش بخت او یابد بخته کیږی او دی داطفالو تربیه دمندو اوپلرونوړو مبنی وظیفه بولی اگرکه ددې پوه په دې خبره ډېرو خلقو خندا کړی وه او په دې خبره ئی دی ډېرملامت کړی و، مگردی دخپله مرگه پورې په‌دغه خپله نظریه ټینگ ولاړو .

نن‌اروپائیانو اودامریکی خلقودغه‌نظریه ټینگه کړی ده اودخپل او لاد په رو زنه کښې ډېر زیار باسی او دا کوښښ کوی چه‌خپل اطفال په صحیح اصول تربیه کړی اوددې لورمقصد دتکمیل‌دپاره‌ئی لوړی لوړی مؤسسی ودانی کړی دی .

په ننني دنیا کښې ډېر بدبخت هغه طفل گڼل کیږی چه په صحیحواصولوتربیه نشی او کم اطفال چه دنا پوهو مندو په غیږوکښې لوهیږی هغوی بی د دروغو اونورو بدوکارو خخه به‌بل خه‌خبر نوی اوپه نتیجه کښې‌درذائلو اوبداخلاقو مرکز اومجسمه وی .

باید ځموږ دخوږ هوا دوگړی دخپلو کو چنیانو روزنی ته‌په ډېرښه شان سره زیرشی اودخپلو اطفالو په تربیه کښې خپل ځان دجامعی‌دخوا مسئول وگڼی .

ځکه چه ښه تربیه نیك او مهذب او داراز اخلاقی ځوانان جامعی ته ور وړا ندی کوی چه دهغوی روح دهرراز کاراوعمل دپاره‌تیار او آماده وی او هغوی هیڅ کله‌داسی کارنه کوی چه‌هغه کارد کورنی‌شرف اویاد ملی حیثیت له‌لاسه وباسی .

مرغزار شی

گرد گلونه کړه چه سیمه دی گلزارشی
اغزی‌مه کړه په‌پښو کښې به دی خارشی

دهقان کرپه لوړه مخکه باندی نه کا
سرکوزی کوه چه‌بې‌دی مرغزار شی

(رحمان بابا)

د کور زیرمه د هلکانو

په پالنه کښې

ښاغلی سلطان محمد خان «تره کی»

ځنی لوستونکی اومتعلمان چه دخپلی ټولی قوی اومعنی په مرسته دعلم په حاصلولو بخت وی. خو بیاهم دوی څرنګه چه لازموی دزده کړی امر په ښه ډول نسی اجرا کولای دایولوی عامل اوسبب اری په دی راز هغه شاګردان چه په خپلو لوستونه پوهیږی اودهغه زده کړه نسی پرځای کولای اوله هغه څخه مغلوبه وی لوی اوبشپړ عامل اوسبب ئی دادی چه دوی تل غمجن او خواشینی وی ځکه چه ودوی ته په خپلو کورو کښې داستراحت اوآرامتیا وسیلی نه وی راغلی اولا ښه خوراك نه ورته حاصلیږی اولا ئې مورو پلار خور، ورور، تل و دوی ته ښکنځل کوی پر مازی بی اهمیته شی باندی تنقید پر کوی. نو ځکه ددوی فکر خراب وی اوبشپړ او کامل فکر وزده کړی نه نسی کولای یوه بله ټولی د شاګردانو داسی هم وی چه دوی تل فجیع او بد حرکات کوی چه هغه دټولنی داذیت موجب ګرزی نوکه په ژوره کتنه ورته وکتل سی نوددوی دبدو کارو دکولو سبب به صرف داوی چه موراو پلارئې په کور کښې د دوی په پالنه اوساتنه کښې ښه توجه نه وی کړی اودوی پرخپل سراو پرخپله رایه باندی لوی سوی وی او اخلاق او کړه ئې تر کتنه لاندی نه وی نیولې شوی. د شاګردانو ټول اخلاق او کار د کور په محیط پورې اړه لری ځکه چه شاګرد خپل وخت په کور کښې دمور او پلار اوخوندو، ورونو سره په بدو ویلو کښې تیر کی غم اوخواشنی ددوی د ستونی بیخ نیولی وی او دوی متالمه او غمجن او په غصه کی وی ټول فکر او خاطرئې په هغه غمو اوغصو او شخړو کښې کار کوی او برسیره پردې باندې که مور او پلاراوورورئې په خپل منځ کښې جګړه سره وکی او بد سره ووائی نوهم هغه بدویل دلوستونکی په روح کښې خوراناوړه اثر ښندی داښکاره او مسلمه خبره ده چه داډول لوستونکی چه و داسی ناوړو او نا مطلو بو افکاروته تل په کوراوکاله کښې خرمه وی هیڅکله نسی کولای چه خپل اوست په ښه صورت و لولی او هغه دماغ ته و سپاری ځکه د مکتب محیط تل و ده ته له عذابه ډك ښکاریږی اوزړه ئې له لوستلو او زده کولو څخه خوراسوړوی اوهیڅکله دده دسبق او لوستوملګری په ده کښې د خوشحالی او فرحت اثرات نه و ینی اوتل غمجن، تر نګلی، اسکیر لی، خړ پړ په نظر ور ځی د دا ډول هلکانووخت تل د کور په اضطراب او غم او خواشینو کښې ضایع سی اوزده کړی ته ئې فکر نه وی چه په پای کښې نتیجه و د ی ځای ته ورسیږی چه په کالنی امتحان کښې نا کامه او وروسته پاته شی هم دارنګه که د خلکو ژوند هم تر پلټنی لاندی و نیسو نو به په ښه راز راته څرګنده او ښکاره شی چه دهغو ژوندهم لکه د شاګردانو چه خپل تحصیلات د کورنی غمجنوالی په اثر و ځای ته نسی رسولای د ی یعنی هغه کسان چه دوی د خپلو ښځو او زامنو سره ښه رفتار نه ولری نو په نتیجه کښې به همداډول نا کامی اووروسته پاته کیدوته خرمه سی اوژوندون به ئې تل په خوراترخه صورت اوبد وضعیت تیریږی اوبیله دې چه خپله و رځنی وظیفه اجرا کاندی تل به ئې فکرد کورپه شخړو اودعوو کښې مصروف او بخت و ی چه د هغه له سبه د دوی ژوندون به څه په کور او څه دباندی په خورا سختی او ناراحت تیاسره تیر یږ ی چه په پای کښې به دو ی په هیڅ راز کارو کښې بریالیتوب مو نده نکړی او تل به له نا کامی سره مخامخ کیږی او ددنیا ناوړه حو ادث به ئې تل کښیکاږی. له دې مختصر ودلیلو څخه ښکاریږی چه د کو ر محیط څه تاثیر او اغیز ه د لو ستو نکو په راتلونکی او تیریدونکی ژ و ند کښې لر ی؟ او مور او پلا راو ورونه څرنګه کولای سی چه د خپل کمکی متعلم د ژ و ند ون بیخ او اساس په خپل لا س ټینګ وساتی له همدې کبله د ټولنی پخوانی پوهانو و یلی دی چه دبیکبختی راز په کور کښې پټ د ی چه باید مور او پلار د هغه له اسراره اووجوده څخه په ښه ډول پوه سی او تل له لوستو نکی سر ه په ښه ډول و پاندی راشی او متالمه او غمجن ئې نکړی اوحتی المقدورښه خوراك ورلره ورکړی او بی ځایه تنقیدنه پروکړی اوله بی ځایه ګرزیدلو څخه ئې منع کړی او باید تل پر لوستو باندی تشویق ورلره ورکړی.

ادبیات

د پښتون زلمی وینا

ښاغلی عبدالروف خان « بینوا »

پښتون زلمی یم ولاړ پرننګ یم — وطن د پاره مین پر جنګ یم
پرخپلو خاورو شیدا پټنګ یم — سرباز زمری یم په وینو رنګ یم
ډك په غیرت می دزړګی جام دی
دادازل د ساقی انعام دی

خاوره می خپله وطن می خپل دی — زه ئې بلبل یم وطن می ګل دی
ډك له همته زما کوګل دی — وطن زما دی غیرت می تل دی
څو چه می ساه وی تر قربانېږم
که ئې وخت راغی تر سر تېرېږم

خاوره هغه ده میرویس خان څه شو — احمد شاه څه شوا کبرخان څه شو
سیدجمال لوړ ، پوه افغان څه شو — شیدا د مینی نادر خان څه شو
دې ټولو زیار کېښ په لوړ تابه کښ
خاوره ئې ځکه ساتی په زړه کښ

دوطن عشق می په زړه کښ ځای دی — کارګه دمینی ماته همای دی
شیرین نفس خوجار تراشنای دی — نورتوکل می پر قادر خدای دی
که آسمان مځکه سره ګډېږی
عشق د وطن می ګله لږېږی

که خاوره نه وه موږ به هم نه یو — خوبې خدمت کړو چه پر میشته یو
ټول ئې روزلی زاړه واړه یو — که موځان جار کی نو پښتانه یو
له تش ویلو هېڅ نه جوړېږی
څوك چه عامل شی ځای ته رسېږی

زموږ مندی - یا - دپښتانه ښځی

ښاغلی عبدالخالق خان «واسعی»

ښځی زموږ دپیدایش لو واسطه ده
دهستۍ ؤ زموږ ترمیانځ لو رابطه ده

کهدوی نهوای موږ بهنهؤمونده سوی
کهدوی نه وای پر نیستی ؤ پاته سوی

خدای قادردی پر هر شی قدرت ئی لوی دی
پیدا کړی ئی (آدم) بې موره زوی دی

مگر بیا هم هر قدرت سبب لرینه
بې سببه قدرت کم معلومو ینه

لنډه دا چه موږ د ښځو نتیجه یو
کهدوی نهوای دعدم په سره غرمه ؤ

پوره نه میاشتې په ځان کی ؤساتلی
د زړه وینی ئی غذا په موږ خوړلی

بیا نو را غلو له هغه ځایه د نیاته
له هاتور تمه راو وتور ناته

څنگه ضعف ؤ ناتوانی زموږ پځان وه
چه مچان زموږ پځان لکه زمریان وه

وس مونه ؤ چه ئی وشړوله ځانه
دغه گرانه موږ پخپله کو آسانه

څو به مور په هر یو مچ را خبر ېدله
ده به زموږ شفافه وینه ورو دله

چه خوږې ادې به ولیدی دا حال
«ځان دی وخورم ودی مرمه» ئې مقال

زړه بې سوری سو زموږ پر حال له ډېره غمه
رنگ بې ژړؤ هو لکی ؤ له ماتمه

ژر بې پور ته کړوله مځکی ډېر په مینه
چه له هغی علاوه مینه نه وینه

پوره دوه کالې خوږې شیدې را کړی
زموږ دپارې خوراډیری خوارۍ وړی

هر سهار بې سر تر نو که پر ېمنځلو
له سړو ؤ له تو د وخې ئې ساتلو

خپل راحت ئې ترموږ پورې ؤهېر کړی
ټوله عمر ئې په موږ ؤ ستړی کړی

زموږ پالنه ئې په شپه ؤ ورځ کوله
چه یوه گړۍ ئې هم نه هېروله

کمه ورځ که به ناروغه زموږ ځان ؤ
هغه آن ددې وعمر ته سوهان ؤ

تر خپل ځان ئی موږ و ځان ته ؤتېر کړی
ترموږ پوری ځان جهان ټوله هېر کړی

ټوله شپه به نا آرامه زموږ دپاره
لټ پر لټ به او ښته دا خواره زاره

چه : صحیحی وی زموږ غذا شیدې
ځنی پاته وې د ټوله کال مېوی

کال به تېر سو دی به څکه په ونکړه
ستا صحت ئې ؤمقصد نور ئې هیڅ نکړه

وهر شی ته بې هوا ډېره کېدله
چه بې تا ته وکتل نه بې خوړله

ټول حلال ئی ستا له لاسه حرام کړی
ټول مباح پر تا باندی ایله کړی

کمه ورځ که به شیدې نه وې دمور
خوار کۍ به گرزولې کور په کور

که به وږی وې د دې زړه به الوی سو
چه به موړ سوې ددې زړه په پر پښتۍ سو

پر زانگو ئې تاته هر گړی خندله
په رحمت بې تور لېمه دراړوله

په هر آن ئې تاته غیږ وه غوړولې
په جنت کی ئې د غیږی بیدولې

بیا چه پرې سوې دشیدو پر پښو روان سوې
له جنته سوې دباندې سرگردان سوې

مصیبت د مور خو نوی نن شروع سو
چه دزړه ټکرولاړ پر خپلو پښو سو

نن د بام ځنو ته خیږی کمکی
صبا گوری چه په لاس کې اور لرگی

دځینو وی را لوېدلی و ر ځې ما ته
یا لمنې او ر اخیستی یا ځی ځا ته

داهم تیره سوه هلك ولاړی مکتب ته
ز وی ئې وسپا ره وعلم ؤ ا د ب ته

چه سهار ولاړ سی مکتب ته ها هلك
دمور زړه له ځایه بیلوی پسی ور ك

چه پر کمه‌لار به وی مکتب ته تللی ؟
چه موتر یا گاډی نوی لاندی کړی ؟

خوهلك راځی دمور زړه‌وی کښانده
مکتب ندی ، یوبلاد دې په ځا ن ده

داهم تیره سوه هلك وختی ځوان سو
په ځوا نی کی بیا زمری هم‌دمیدان سو

وهر کا ر ته چه‌ملا و تړی په کلکه
پرشانه‌راځی هم ستر گه و ی په ډ که

چه وجنگ ته ځی له شوقه پرلار ناځی
دښمن وخوری تربرېتوئې وینی ځاځی

هغه (مور) پردې موقع هم‌ورسره ده
په(سره اور کی) له‌زامنو سره‌مله ده

داسی نه چه (ولادت) ئې فریضه وه
یاد کور محدود خد مت ئې وظیفه و ه

په جگړو کی را سره وی خپلی مندی
وچ شونه‌ان‌مورالانده کی خپلی خوندی

پښتنې مندی جنگو نه هم کوینه
له ز ا منو سر ه جنگ ته سمی ځینه

که زلمیان په تو پکو فیرونه وکړی
وریندار گانی‌وچ حلقونه‌ورلانده کړی

غرض دا چه زموږ دښځو او حصه ده
په جنگو کی که څه هم دا ا ر تینه ده

دا پدې چه پرپښتون ئې اعتماد دی
په عفت دپښتا نه ئې زړ گی ښا د د ی

چه‌په بده سترگه دی‌دې ته نه گوری
ځکه سمه‌پرجنگ ځای ورسره ښوری

پښتا نه د ی ځښتن تل عقیف لرینه
دښمنان دی د د وی تل خفیف لر ینه

(انتها)

❀ ❀ ❀

غزل

دښاغلی «پژواك» له طبع

دیلتون له لا سه عمر می په دار د ی
د ژوندون پیتی‌م دروند په اوږو بار د ی

خندنی‌شوم دوست دښمن رایوری‌خاندی
ای زړ گیه را ته ژاړه نن د وار د ی

د هجران په لنبو وسو مه اپر ی شو م
چه ځما سره دمینی نور څه کار د ی

په‌هیڅ فصل کښ‌م رنگ‌دزړه وانه‌اوښت
نه پو هیږم چه داگل دکوم بهار د ی

یگا نه زړ گی م د یر مطلب آ شنا و
چه مطلب‌م دآشنا شو اوس م یار د ی

اور دمې دی اوس دهسی سترگی ژاړی
ای «پژواکه» زړه دخوشی نا فلار دی

خپله ژبه

دښاغلی «جرار» له طبع

چه فطرت دپسرلی ښی ورځې شپی کړې دبید یاپر سپېره مخ گلو چپې کړې
تابه ویل چه سور پالنگ، لاله تپې کړې دظلمت چپاوپه بېرته سپکې ښپې کړې
یعنی راغی پسرلی دگلو وارشو
دوطن په غاړه زوړندلکه هارشو

تاسې گوری چترچتر بو راگان دی چه په خو اکښ ئی ډلې دلې بلبلان دی
چه گلشن ته له هرلوری را روان دی داهغه دی چه ددې گل په ارمان دی
اوس چه وخت دپسرلی او نوبهار شو
پر گل ځکه دبلبلو چغهار شو

پسرلی دی هر طرف ته خوشحالی ده په سنگاړ او ارایش سره سیالی ده
سابقه د هر لباس د هر کالی ده د وطن په برخه ښکلی نېك فالی ده
داپری فضل د څښتن پرور د گار شو
چه ظاهر غوندې ټول واك ئی شهریارشو

زه دسبل د پاره لاړمه گلشن ته چه کتل مې هرې و نی هر چمن ته
کله ما کتل شبو کله سوسن ته ما ویل گوندې راغلی یم ختن ته
تابه وی گوندې کاروان په مشکو بار دی
د گلشن په لور روان قطار قطار دی

راشه واوره چه دې پوه کړمه په بله چه مې ولیده په ښاخ ناسته بلبله
مخا مخ وه ورته ناسته یوه بله وینا کړله د غو د واړ و یو له بله
ځما خوښ ددې یوې دخو لې گفتار شو
لادو چند مې هغې خوا ته انتظار شو

ما ویل ورته بلبلې څه تاثیر دی چه بیان دی ځما زړه لره اکسیر دی
په خبر ودی ځما روښان ضمیر ډی ستا وینا ته مې د ستر گور ودبهیر دی
راپه غاړه ستا دمینی لوی زنار شو
نه پوهېږم چه داولې داسی کارشو

ما کتل او دی کو لې د اخبرې ما چه توی کړی له دبلی نه مرغلرې
ستا په روح باندې واقع شوی مؤثری هو! خبر ئی له عقله نه وی لرې
د بلبل رمز مې هاغلته په کار شو
چه مې روح دخپلې ژبې طرف دارشو



زوړ افغانستان

ښاغلی احمد علی خان « کهزاد »

د آسیا په جنوب غربی اړخ کښې ددو وهغه لو یو رودخانو په منځ کښې چه دد نیا دبا م څخه راو تلی د ی یو مملکت پروت دی چه دهغې ملك پخوانی زوړ ار یانی نوم «اریانا» دی ، او دامملکت دد نیا دډیرو پخو ا نو ممالکو څخه ګڼل کېږی، ددې مملکت په ډیرو برخو کښې دا راز جګ جګ غرو نه شته دی چه همیشه په وا ورو کښې پټ وی .

ددې مملکت د (۵۵۸۰۰) کیلومتر ومربعی سطح څخه دوه (۲) ثلثه غر ونه دی اونوره باقی پاتی سطحه ئی اواره اوجپې دی . دافغانستان په شمال شرقی برخه او مرکزاو جنوبی برخو کښې غرونه پراته دی. اوددې مملکت په شمالی اړخ کښې دآمو په غاړو او په لمر پرېواته خوا کښې دهری روداو ارغنداب ددر وتر منځه اوار ډاګونه اوجپې پرتې دی چه دسیستان دهامون پوری رسېد لې دی . دافغانستان په غرونو کښې مهم غر هندوکښې غرد ې چه په پامیر کښې دهمالیاسره غوټه شوې اوتقریباً دوطن په منځ کښې لمر پرېواته خواته غوز یدلی دی ، اود دې مشهور غره څخه لکه د ، منجان ـ خاواك ـ کوهستان ـ دندان شکن ـ داغر بات ـ وغیره پشان غاښی بېل شوی دی .

په پخوانو وختو کښې به پدې غاښو کاروانو نه او قافلې دوطن جنوبی اوشمالی خواته تلل. راتلل ، لیکن نن دښکاری کوږ ووږ اوتوراتو سړك ددې غاښو په زړه کښې دموټرو دتلوراتلو دپاره یوه عصری لارجوړه کړې ده .

بابا ـ سپین غر ـ سیاه کوه ـ فیروز کوه ـ دیو سو نو رو غونډو نوم د ی چه ددې غو نډ و ښکلو درو او پیا وړ و او ننګیا لو ا ستو ز نو د پخو ا نو قصو او افسا نو رنګ او روغن او خو ند او مزه لازیات کړې دی ـ او هر کله دو طن غو ر ه او ښه غرو نه لکه دپامیر اودهزاره جات غرونه شو، په شمال شرقی خوا اودمملکت په مرکز کښې پراته دی نو دافغانستان درودخانو اوبه هم عموماً ددې غرونو څخه را کښته کېږ ی او په خوړونو اوشپلوکښې بهېږی .

اودهند وکش دجنو بی خوا لمنو څه قد رته او به اباسیند ته لوېږ ی اود هغه سره ګډې په او قیانوس ګډېږی، اونورڅه اوبه دباختر په اواروڅمکو یعنی دمملکت په شمالی خوا کښې جذبېږی ، اوڅه قدرته نورې اوبه چه دمملکت دغربی خوا دکښتونو دپنه کو لو او اوبه کولو څخه زیاتې پاتې شی نوهغه اوبه دسیستان په هامون نو می رود ګډېږی .

دافغانستان آ ب وهوا اګرچه دبری یعنی دوچې په آب وهوا کښې شمیرل کېږی لیکن دځمکی دجګ و الی اوغرونو په سبب دروغتیا اودوجود دسلامتیا اودونو دتربیې او دتخمونو او راز رار حبو باتو دپا لنې دپا ره خو را مساعده ده .

افغانستان سره ددې چه دغه شان جغرافي موقعیت لري . د تاریخي نقطهٔ نظر څخه هم افغانستان دیو داسي لوړمقام اوخصوصي امتیاز خاوند دی چه نور وطنونه ئي نه لري .

دپخوانو پېړو ـ ویدي ـ اوستائي ادبي آثارداخبره ثابته وي چه : آریائي : شریف نژاد دباختر په خاوره اودافغانستان په شنو اوودانو درو کښې پیداشوي اولوی شوي دي ، اوددې ځایه څخه دده ځانګي هنداوفارس اوددنیا نورو نقاطوته خپرې شوي دي .

دپخوانوادیانو دجملې څخه علاوه داریانانو دپخواني عناصرپرستي څخه زوراستري ـ اوبودیزم هم دافغانستان په خاوره کښې پالنه اوروزنه موندلې ده ، یدې ډول چه زوراستري دافغانستان په خاوره کښې پالل شوي دي ، او بودیزم اګرکه په هند کښې پیدا شوي دي لیکن دخپل انبساط مراحلئي دهندوکش په لمنو کښې طي کړیدي .

اوهمدغه شان ځموږ خوږ وطن داسلام څخه په پخوانو ادوارو اووروستنو ادوارو کښې دصنایع ظریفه دنقطي نظر څخه په ټوله آسیا کښې دمرکزیت او استاذي حق درلود لکه چه ځموږ داسلام څخه پخواني صنایع په دنیا کښې د : صنعت باختر یا « ګریك وبودیك په نوم » په هند، چین جاوا ـ جاپان ـ کښې خپاره اوپه دغه نومونو شهرت لري اوځموږ داسلامي عصر قریحه د « نګارستان هرات » په نوم په فارس اوهند کښې خپره ده .

دافغانستان موقعیت داخبره لازمه کړیده چه باید دآسیا پخواني تجارتي اوبي لاري یدې ملك تیري شي لکه چه د « ابریشم » لویه لار دبلخ او تخارستان څخه دچین اوفارس اوبحر متوسط خواته تللې وه ، اود هندوستان څخه لویه تجارتي لار دتاکزیلا څخه کابل ته راغلې وه ، او دکاپیسا « کوهدامن » نه بلخ ته تللې وه موږ پښتانه دپخوانو اریائي شواهدو اومنابعو درویه داعقیده لرو چه په دنیا کښې دټولو څخه اول سلطنتي نظام په دنیا کښې ځموږ دمملکت په شمالي اړخ « باختر » کښې میدان ته راوتلي دی اوداهغه وقت وچه د « آشوري اونینوا » نوم اونحښه نه وه بلخ دهندوکښې په شمالي لمنو کښې دتوران برعلیه دآریائي شاهانو سنګرو .

دې جنګیالي قام پرله پسې دهغې پورې بادشاهي کوله چه دیونانیانو موقتي تها جمونو یدې سلسله کښې لږ شان سکته پېښه کړه ، اوداسکندر دمرګ سره سم دباختریانو داستقلال روح په حرکت راغلو اودمملکت په شمالي صفحاتو دیونان اوباختر مستقل حکومت تاسیس شو چه ددووسوو کالو پورې دغه حکومت دوام وکړ اودهند لویه برخه دباختر دامپراطوري جزو ګرزیدله .

اودباختر دیونانیانو نفوذ داسکانیانو او کوشانیانو دظهور په اثرله منځه ووت اودهغې ځای یو مقتدر حکومت ونیو چه ځموږ دمملکت په تاریخ کښې دکوشان په امپراطوري یادېږي ، اودې لوی کور نې دمسیح داول قرن څخه تقریباً دشپږو سوو کالو پورې دوام وکړ ، اوددوی اولادونو دهغې وخته پورې په کابل حکومت درلودچه داسلام مقدس دین پدې خاوره باندې ظهور وکړ .

اوهر کله چه کوشانیانو په هند کښې لوړلوړ فتوحات وکړل نودخه مودې دپاره دبدخشان هیاتله وته اقتدار په لاس ورغلو اوساسانیانو به دافغانستان په کارونو کښې مداخله کوله سخت ځوابونه ئي ورته ورکړل ، اومتعاقباً هم دهغه کوشانیانو ځامن دافغانستان دجګو غرونو څخه لکه دسیلاب په شان ورکښته شو اوبیائي دوباره دملك په غرونو اودروکښې دکوشانیانو حکومت جوړ کړ او هم دې حالت یدې ملك کښې داسلام دمقدس دین دظهورپورې دوام وکړ .

داسلام مقدس دین افغانستان ته د تدین او مساوات اومشوري او ازادي تعلیم راوړ او هر کله چه د پښتنو ملي روحیاتو او داسلام دمقدس دین فرمایشاتو یو تربله کافي توافق درلود نوپه لږه موده کښې دبلخ او هرات او غزني اوبست اوفیروز کوه او سمنګان وغیره دجګو څوکو او دزړو دیوالونود کنګر و څخه دنوی ثقافت اومدنیت رونا ګانې پورته شوې او دپښتنو دآزادي زمزمه لکه چه څنګه داسلام نه پخوا په ډېر جوش کښې وه داسلام څخه په وروستني دوره کښې هم ددې پجوش کښې فرق رانغلو بلکه لازیات شو .

اوپښتنو لکه چه داسلام دمقدس دین په ډېره خوشحالي سره استقبال کړې واوددغه مقدس دین په ساتنه اوخپرونه کښې به ئي ډېر کوشش کولو ، دخپلي ملي آزادي سره ئي هم کافي مینه اوعلاقه درلوده ، ځکه دخپلوملي روحیاتو او داسلام دمقدس دین دفرمایشاتو مطابق دوی داغوښتل

چه باید موږ مسلمانان اوصحیح پښتانه یو اوموږ مسلمانان او آزاد پښتانه یو .

هم داسبب وچه دابومسلم په یو جنبش دملی آزادي هنګامي دمرجیان اوهری رودد حوضو څخه راپورته شوي اوورو ، وروئی تدریجاً دسیستان په هامون اود کابل او آمو په حوضو کښې اثر و کړ ، اوطاهر او یعقوب بن لیث اواسدبن سامان هغه خلق دی چه دوی ډومبی ځل آزاد اسلامی سلطنتونه دخراسان په شمال غربی او غرب اوشمال اړخونو کښې تاسیس اوتشکیل کړل ، اود آل ناصر دظهور سره سم دغه سلطنت په یوه داسی لویه مقتدره امپراطوری تبدیل شو چه دهغی لمن د ګنګا څخه دخلیج فارس پورې خپره وه .

پښتانه سلاطین - غوری - خلجی - سوری - لودی - چه خو مودهٔ دهند په خاوره حکومتونه کړی دی هم دوی په دغه ملک کښې دافغانی مدنیت اساس کلک اوټینګ کړیدی .

دچنګیز دفتنی دوره یوه داسی دوره تېره شوېده چه دهغی څخه یوازې افغانستان نه بلکه ټول منځنی مشرق د دې دبداثر څخه متأثر شوی و.

خوشبختانه ددې بدبختی دورې نتیجې هم په افغانستان کښې یونوې رنګ پیدا کړاو تیموریانو دهرات په ښکلی او مدنیت بخښونکي فضاء کښې دخپلو پلرونو او نیکه ګانو دښمنی اوترب ګنی هېرې کړې وې اود هرات، او بلخ څخه دصنایع ظریفه اواسلامی علم اوحکمت مرکز جوړ شوی و.

ددې پورې چه بابر دهند دمغلو مشر په کابل کښې نشوونما و کړه او دمغلو یو لوی حکومت ئی په هند کښې تشکیل کړ .

دشاه حسین صفوی دسلطنت په زمانه کښې دمملکت په شمال غربی کوټ کښې دپښتو دآزادی خواهی حس چه محکښې موورته اشاره کړېده .

دمیرویس خان هوتک سره دارغنداب دغاړو څخه را ښکاره شو اوددې حس دښکاره کیدو په اثر هوتکی غلزائی خاندانونه تشکیل شو اودمحمود او اشرف په لاس ایران فتح شو .

پدې پسی نادرشاه ترکمان دمقابلې دپاره پورته شو، او دده په مقابله کښې داحمد شاه کبیر درانی ستوري چه دافغانستان په تاریخ کښې د«بابا» په نوم شهرت لری وخوت .

اویوازی افغانستان دابدالیانو دآمریت لاندې راغلو بلکه څو ځله دوی هندهم فتح کړ ،

دصدو زیاتو ددورې په اخیر کښې بارک زودمملکت داری په کارونو کښې ډیرزیات نفوذحاصل کړی واوپدی سبب دسلطنت کړونه اعلی حضرت امیر دوست محمدخان یعنی دمحمد زائی خاندان ته رامنتقل شو .

اعلیحضرت امیر دوست محمدخان پخوانی پریشانی ټولې دمنځه وویستلی اویونوې مملکتی اودملی روح وحدت ئی قائم کړ - اواعلیحضرت امیرشیر علیخان سره ددې چه عمرانی او دعسکر نوازی او معارف خواهی روح ئی درلود نظامی قواو اودمعارف مبادی ګوته ئی هم پوره وسعت ورکړ. اوددې کور نی ټولو شاهانو هریو په خپل خپل وار ددې وطن په ودانی اوخدمت کښې ډیرډیر کوششونه کړیدی -

لیکن هر کله چه په سنه ۱۳۰۸ کښې انقلاب وشونو دغه انقلاب دافغانستان په فعالیت څه قدرته موقتی وقفه پېښه کړه .

خوشبختانه دانقلاب دغه تیاره دوره دافغانستان دیورشید زوی یعنی اعلیحضرت محمد نادر شاه کبیر چه په معاصر تاریخ کښې دمصلح بزرګ په نامه یاد یږی په ځلانده توره ډیره زر رونا شوه اوټولې بدبختی ئی دمنځ وویستلې اودهغې په عوض کښې ئی یوقوی او متحد افغانستان جوړ کړ .

اعلیحضرت محمدنادرشاه شهید دخپل سلطنت په څلورو کلونو کښې دوطن په ټولو حیاتی شعبو کښې داسی متین اساسونه کښېښول چه تر متر قی افغانستان دخپل ځلمی محبوب بادشاه المتوکل علی الله دبختور سیوری لاندې دهغی میوې خوری او ډیر ګرندی دترقی خواته روان دی او دترقی لوړ مدارج حاصله وی .

دلغاتو انواع

دښاغلی صدیق الله خان «رشتین» په قلم .

زه غواړم چه په دی څو کرښو کښې دلغاتو د انواعو څخه بحث وکړم او هغه لغات چه په ژبه کښې استعمالیږی او دژبی عناصر ورته ویلی شو، د انواعو په لحاظ تقسیم کړم .

په دی ځایکښې زه دلغاتو تعریف ته اړنه یم . ځکه چه دلغاتو په تعریف او په معنی تر یوی اندازی پوری هر څوك پوهیږی .

په دی بحث کښې ځما مطلب صرف دادی : چه د اخبره خر گنده شی ، او هر لیکوال او صاحب قلم ته معلومه شی ، چه یوه ژبه کښې څو ډوله لغات استعمالیږی او دیوی ژبی ضروریات ، احتیاجات په څو نوعو لغاتو پوره کیږی ؟ .

ځکه چه ځینی کسان چه د دې حقیقت سره ناآشنا دی ، هغوی همیشه د پاره کوښښ کوی او وائی چه ژبه باید د پردو لغاتو څخه پاکه شی ، او اجنبی لغات په ژبه کښې استعمال نشی ، دا نظریه که څه هم اصلاً ډیره معقوله او ښه نظریه ده، او دژبی د سوچه والی خیال یو مبارك خیال دی ، مگر هر کله چه دا کار د امکان د دایری څخه بهر معلومیږی نو ځکه مونږ وایو چه په زور ځانته مشکلات پیښول ، او دژبی د دایری محدودول لازم نه دی ، بلکه لازم دی چه په دی لارکښې ډیر تسهیلات او وسعت پیدا شی.

ولی چه ژبه په حقیقت کښې د افهام او تفهیم یو وسیله ده. که متکیفه هوا چه د انسان د خولی نه وځی ، هغی ته اصوات وائی او اصوات پر حروفو مشتمل وی ، او د حروفو څخه کلمات اولغات جوړیږی . او د کلماتو اولغاتو استعمال ته چه دیو بل د تفهیم او پوهولو د پاره وی ژبه ویل کیږی . نو دژبی مطلب او مقصد هم دادی ، چه سړی دیو بل په مطلب او مدعا پوه شی، او خپله مدعا د الفاظو په جامه کښې یو بل ته ښکاره کړی . نو دا الفاظ یا دا کلمات چه مونږ پری یو بل ته خپل مطلب او مدعا بیانوو : څومره چه ډیر او په زیاته پیمانه وی، په هغه اندازه په ژبه کښې آسانتیا پیښیږی او ژبه خپل مطلب او مقصد ښه ادا کولی شی .

دا زه نه وایم چه دژبی د سوچه کولو کوښښ د ی ونشی ، یا دژبه مختلطه او گډ وډه پاتی شی بلکه زما مطلب دادی چه پردو لغاتو ته دی سړی په دې اندازه بدگمانه او په قهر هم نه وی ، چه د هغی په لیری کولو ژبه بالکل د افهام او تفهیم څخه وځی ، او لکه د چهار پایانو د اصواتو یو غیر تفهیمی شکل پیدا کړی . هم د او جه ده چه په هره ژبه کښې د نورو ژبو لغات راننوتی دی ، یائی څه لږ تغیر موندلی دی . او یا هم په هغه شان مستعمل دی . د پاره د دی چه ژبه آسانه شی ، وسعت پیدا کړی ، او د افهام او تفهیم لار ښه پراخه او وسیعه شی . د عربی غوندی متموله ، او سرمایه داره ژبه کښې که څوك دا کوښښ وکړی نو هم به کامیاب نشی ، په زرگونه لغتونه په عربی کښې د نورو ژبو څخه راننوتی دی ، او تولو یکښې په بیل بیل نوم ځان ځای کړی دی . څوك «دخیل» دی څوك «معرب» دی او څوك څه او څوك څه !

لدغه کبله چه ژبه هیڅکله دنورو ژبو داحتیاجه ، او دپردولغاتو داستعمال څخه نه خلاصیږی نو دژبی پوهانو اولغت دانانو لغات دانواعو په‌لحاظ ویشلی اوتقسیم کړی دی ، اودی هری یوی نوعی ته‌ئی په‌ژبه کښ حق‌ور کړی دی . داهره یوه نوعه چه اوس بیا نیږی دژبی عنصر شمیرلی شی .

داستعمال په‌لحاظ چه په ژبه کښ دلغاتو کمی نوعی موجودې دی دادی . داتقسیم او ویش هم تخمینی اوتقریبی دی .

۱ : ـ مترادف : هغه متعدد الفاظ چه معنی اومطلب ئی یووی ، مترادف لغات باله کیږی لکه (بارخو، اننگی) یا (تندی ، وچولی) مترادف لغات په هره ژبه کښ موجود دی ، اودا دژبی کمال اوحسن گڼل شی ، ځکه چه څومره چه په یوه ژبه کښ مترادف لغات ډېر وی هغومره سړی خپل مطلب ښه ادا کولی شی ، په داسی شان چه‌دالفاظو تکرارنه هم نه محتاجیږی ، برسېره په‌دې په مترادفو لغاتو د کلام حسن او مزیت او خوږ والی هم زیاتیږی .

۲ ـ مشترك : هغه لفظ چه ددوه دری معنی گانو دپاره وضع شوی وی ؛ هغه ته‌مشترك‌وائی، مشترك‌لغات که‌څه‌هم دژبی دنقصان‌دلیل دی مگرسره ددې‌هم‌یوه‌ژبه دمشترکو لغاتو څخه نشی خلا صیدی ، او خا مخا به پکښ مشترك لغات موجود وی. مشترك لغات دقبیلودډېروالی څخه پیدا کیږی ، یوه‌قبیله یایوقوم‌چه‌یو لغت دیوې معنی دپاره کښیږدی ، نوبله قبیله چه تری خبره نه‌وی : هغه بیاهم هغه لغت دیوی بلی معنی دپاره استعمال کړی ، په‌دې صورت کیږی چه یولغت ددوه دری معنی گانو دپاره کښیږو دل شی . لکه « ډنگر » چه ځینی خلك ئی دخوار اولاغر په‌معنی استعمالوی اوځینی خلك « ډنگر » چارپای ته وائی. یا « قابو » دالغت هم دقوت او طاقت اووسعی اوهم دقریب اونزدی په معنی استعمالیږی لکه دحمید په‌دی بیت کښ :

چه دیدن ئی له قابو د آشنا وووت
ووتو ته په قابو شه ځما روح

❀ ❀ ❀

په‌دی ډول مشترك لغات نورهم ډېر په پښتو کښ پیدا کیږی .

۳ ـ دخیل : دخیل هغه لغات دی ، چه دبلی ژبی څخه په‌یوه ژبه کښ راننوتی‌وی اوهیڅ تغیر اوتبدیل‌ئی نه‌وی موندلی، دانوع لغات هم‌په هره ژبه کښ شته ، د دخیلو لغاتو استعمال په ژبه کښ روادی مگر په‌دی شرط چه‌په ځای ئی په ژبه کښ بل‌لغت نه‌پیدا کیږی اوکه په‌ځای‌ئی دژبی‌خپل‌لغت موجودوی ، نوبیائی ډېر استعمالول دژبی سره ظلم اوزیاتی معلومیږی، دخیل لغتونه په پښتو کښ ډېردی ، لکه صابون، صندوق، تنور ، دالغتو نه اصلا عربی‌دی، اوپه پښتو، حتی‌په‌فارسی،اردو کښ هم‌راننوتی دی، اوپه عوض کښ‌ئی نورلغات هم‌نشته، نودداسی‌لغاتو استعمال ته دژبی پوهان ډېربدنه وائی: اونه ورته ډېر په قهروی چه گوندی له ژبه څخه ئی وکاږی .

٤ ـ مصنوع : مصنوع یامولد هغه‌لغات‌دی چه‌له‌پخوا څخه په‌ژبه کښ نه‌وی اووروسته‌جوړشوی وی،داسی‌لغات دضرورت‌دمخی جوړیږی، مثلایوشی چه‌په‌اول کښ‌نه‌وی اووروسته راپیداشی، نوعام خلق ضرور هغه‌شی ته یونوم وضع کوی، دغسی‌لغات مصنوعی لغات باله کیږی لکه د « اور گاډی » (ریل) جولا گاډی (بایسکل) ټپټپی (موټرسائکل) الوتکه (طیاره) او بتل (تحت البحری) ډوب ما کو (تارپیډو)

٥ ـ مفغن : مفغن هغه لغات دی. چه اصلا دبلی ژبی وی مگر په پښتو کښ ئی دپښتو رنگ قبول کړی وی اوتغیر اوتبدیل پکښ راغلی‌وی، دانوع لغات هم دژبی خپل لغات گڼل شی . ځکه چه دخیل لغات په ژبه کښ قبلیدی شی، نومفغن خوباید په‌ښه صورت قبول‌شی، دانوع لغات په هره ژبه کښ په‌زیاته پیمانه‌موجود دی،اوهره ژبه پدی واسطه خپل‌احتیاجات‌پوره کوی. په‌عربی کښ معرب شته اوپه فارسی کښ مفرس ، اودپښتو هغی ته به مفغن ووایو، مفغن لغات دادی : « سویل » چه‌په‌اصل کښ سهیل دی . (مازیگر) (اودس) اوداسی نور :

ددې پورته بحث‌څخه معلومه شوه چه‌داهر یوه نوعه دژبی په‌تشکیل کښ پوره برخه‌لری اوژبه هم‌ددی انواعو څخه جوړیږی ، نومونږ باید دپښتو د لغاتو په باره کی دوسعت څخه کار واخلو او د ژبی دوسعت لار په‌زور په ځان باندی تنگه نکړو . امیددی چه زیات پښتانه به‌په‌دی فیصله خوښ اوخوشاله وی ـ!!

دخو ضمایرو استعمال

د زده کونکو دپاره

داښکاره خبره ده چه پښتو په پوره اندازه یوه قانونی ژبه او د نحوی او صرفی قواعد لرونکی ده مگر متاسفانه چه تر اوسه پوری دغه قواعد په مکمل او صحیح صورت میدان ته نه دی راوتی، چه خلق ور څخه پوره استفاده وکړی شی هر کله چه د پښتو موجوده نهضت یو اساسی او اصولی نهضت دی، او ټول قوا مصروف دی چه دا ژبه د کمال معراج ته ورسوی، نو زیات امید کیږی. چه د ښاغلو پښتنو په مرسته به دا ژبه، د خپلو قواعدو او نورو علمی مزایاو څښتنه شی، او د دې ژبې ټولی علمی، او صرفی نحوی نکتی به بیان، او په آسان شکل به د نو آموزانو حضور ته وړاندی شی. د ژبی په زده کړه کښ که څه هم محاوره زیات تاثیر او دخل لری، اما قواعد هم پدی لار کښ ډیره مرسته او کومك کوی نو مونږ غواړو چه کله کله لحینی ابتدائی قواعد نو آموزانو ته بیان کړو، او په دې لار کښ د دوی سره یوه وجدانی مرسته وکړو.

دغه دی اوس په مطلب کښ شروع کوم او د خو ضمیرونو د استعمال مواضع چه نو آموزان یکښ ډیر خطا کیږی او تیروزی، بیانوم:

(در، را)

که چیری په سوال کښ (در) چه د مخاطب ضمیر دی ذکر شو نو په جواب کښ به ئی ارو مرو (را) چه د متکلم ضمیر دی ذکر کیږی.

سوال	جواب
زه توره در کړم؟	هو ته توره را کړه!
زه تو پك در کړم؟	هو تو پك را کړه!
کتاب در کړم؟	نه کتاب مه را کوه!
مشوانی در کړم؟	نه مشوانی مه را کوه!

همدغسی که چیری په سوال کښ (را) ذکر شو نو جواب به ئی داولې مادې په ډول بیدو (در) راځی.

ښاغلی «جرار»

سوال	جواب
چاړه را کوې؟	هو چاړه در کوم!
قلم به می را کې؟	هو قلم به دی در کړم!
کاغذ را کوې؟	نه کاغذ نه در کوم!

نور هم پدې ډول وگټه.

(ود)

دا ضمیر د مفرد غائب د پاره دی مذکر وی که مؤنث او د جمع غایب د پاره هم استعمالیږی.

مذکروی که مؤنث او په سوال او جواب کښ څه فرق نه پیدا کوی په دواړو کښ یوشان ذکر کیږی.

سوال	جواب
احمد ته دی قلم ورکړ؟	هو احمد ته می قلم ور کړ!
رحیمی ته دی پنسل ورکړ؟	هو رحیمی ته می پنسل ور کړ!
هلکانو ته دی قلمونه ورکړل؟	هو هلکانو ته می قلمونه ورکړل!
نجونو ته دی قلمونه ورکړل؟	هو نجونو ته می قلمونه ورکړل!

همدغسی په هر ځای کښ در واخله.

(مې، دې)

مې د مفرد متکلم پاره دی مذکر وی که مؤنث او (دې) د مخاطب مفرد د پاره دی مذکروی که مؤنث او بیدود (در، را) په څیر استعمالیږی یعنی څرنگه چه د «را» په جواب کښ «ور» اود «ور» په جواب کښ «را» راته دا رنگ د «می» په جواب کښ «دی» سوال اود «دې» په جواب کښ «می» راځی.

سوال	جواب
کتاب می را کوی؟	هو کتاب دی در کوم!
قلم می غواړی؟	هو قلم دی غواړم!
پنسل دی واخست؟	هو پنسل می واخست!
ورور دې راغی؟	هو ورور می راغی!

(مو)

داضمیر د متکلم دجمع دپاره اوهم دمخاطب دجمع دپاره د ی اود (ور) په څېراستعمالیږی یعنی په سوال اوجواب دواړوکښې یورنګ راځی .

سوال	جواب
توره مو در کړم ؟	هو توره مو را کړه!
چاره موراکوی ؟	نه چاره مونه‌در کؤو!
کتابونه موتول کړل ؟	هو کتابونه‌موتول کړل!

(ئی)

داضمیردغائب دپاره دی مفرد مذکروی که مفرد مؤنث وی جمع مذ کر وی که جمع مؤنث وی او بیدود (ور) په څېر په سوال اوجواب کښې یوراز استعمالیږی :

سوال	جواب
قلم ئی ور کړم ؟	هو قلم ئی ور کړه !
مشوانی ئی ورکړم ؟	نه مشوانی ئی مه‌ورکوه !

امید دی ، که ښاغلی‌نوآموزان ددې څولنهو قواعدو مراعات وکړی ، اودغه څواستعمالونه‌په خیال کښې وساتی نو ، ډېره مرسته اوکومك به ورسره وکړی - اوپه ډېرو ځایونوکښې به ترینه کار واخلی ، اویوه صحیحه محاوره او صحیح تلفظ به پلاس ورشی .

دغس‌که سړی دیوی جزئی قاعدې مراعات وکړی نوهغه ورته به ډېرومثالونوکښې په کار ورځی او په دی واسطه په ډېرمثالونه صحیح اوپه محاوره‌برابرلوستی‌شی .

رباعی

په هرشام پسی سحر شته نظروکړه
یودبله زده کوی،دجهان دوددی

عاقبت چه‌څوك غمجن شی بیابه ښاد شی
له او له چه شاگرد وی بیا استا د شی

(خوشحالخان ختك)

ژبه

ښاغلی عزیزالرحمن خان

ژبه داجتماعی ژوندون پومهم پیداوار اود انسان یوه مخصوصه ممیزه ده ، اوژبه هغه مزې اوقیمتی تاردی چه دبشر خپاره او متشتت اولکه دمرغلرو دانه دانه افراد پرې د یوبل سره په یوه سلسله اولړی کښې منسلك او پېیل کېږی ، اوهمداسبب دی چه دژوندانه په ټېل ماټېل کښې دقامونو دیوبل سره گډون او یوځای والې دژبې مخصوصه ممیزه گڼله کېږی ، انسان دخپل ژوندون په ابتدائی دور کښې وحشیانه ژوندون تېراوه اوپه مخصوصو حرکاتو سکناتو او ماتو گوډو الفاظو به ئې دخپلو زړونو خبری یوبل ته ښکاره کولې ، اوهمداشیان ددوی دپوهنی مخصوص ذرایع وو .

مگر څومره چه دانسان تخیل او ادراك او فکری قوت ترقی کوله هم هغومره ده دخپل ضمیر دمطالبو دښکاره کولو دپاره موقع په موقع الفاظ هم ایجاد کړل او ورو ، ورو ، داشار تونو ځای الفاظو ونیواو په دې طرز په دنیا کښې ژبې وسعت پیداکړ ، اود ژبې په سبب دبشر خپاره اودانه دانه افراد دیوبل سره غونډ او پېیل شوه اوددې ژبې دارتباط به اثر داجتماعی ژوندون بازار گرم شو .

لیکن هر کله چه خلق ډېر شوه ، اوددنیا په مختلفو مځکو کښې خپاره اودیوبل څخه بېل اوجلا ځایونو کښې میشت شوه ، نود زمانې دانقلاباتو اودمحیط داقتضاء اوتشتت په اثر په ژبه او الفاظو کښې هم تغیر پیداشو اوداتغیر ورو ورو دومره ډېر شو چه ددې ډېروالی په اثر په ژبه کښې جلاجلا اقسام اوانواع پیداشوه ، اوهمددې جلاجلا اقسامو اوانواعو په سیوری کښې ځان ځانته قامونه تشکیل شو ، او هر قام دخپل محیط او خپلورو حیاتو مطابق عادات ، اطوار ، لباس اوشئونات غوره کړل ، اودهر قام نصب العین دبله قامه څخه بېل اوجلا شو ، اوددې څخه وروسته دیووالی دپاره دهر قام مورنۍ ژبې ته اعتبار اواهمیت ور کړشو ځکه چه دهر قام دترقی اولوړ تیا مهم عامل خپله مورنۍ ژبه ده ، اوددې خبری نتیجې ته انسان هله په ښه شان رسېدی شی چه انسان دقامونو ابتدائی تاریخی واقعات و گوری اوتحلیل ئې کړی !

یوقام په اصلی معنو کښې هله ترقی کولی شی چه په خپل معارف کښې په خپله مورنۍ ژبه کښې علم حاصل کړی لکه چه غربی اقوامو به هم په خپل ابتدائی وخت کښې په خپل معارف کښې په لاتینی ژبه تحصیلونه کول مگر . لږه موده وروسته په دې خپله غلطی پوه شوه ، اوپه خپله ملی ژبه کښې ئې تحصیلات اوتعلیمونه شروع کړل ، او نن دد نیا ژوندی قامونه خپلو او لادونو ته په خپله مورنی او ملی ژبه کښې تعلیم ورکوی ، او دهغوی په معارف کښې دمعارف شاگردانو ته په ملی ژبه کښې تعلیمونه ور کول کېږی ، ځکه ملی ژبه داخاصیت لری چه علاوه تردې چه « خپل سبق او دهغې په مطلب متعلمین ښه پوه شی ، په متعلمیونو کښې دقومیت اووطنیت پاك روح او سپېڅلې جذبات هم پیدا کوی اوټول قومی جذبات او ملی احساسات داطفالو په زړونو کښې ژوندی کوی ، او چه څومره ئې تعلیم مخ په وړاندی زی ددوی دقومیت او وطنیت جذبات هم مخ په وړاندی زی ، او ، ورو ، ورو ددې اندازې پورې په وطنیت کښې محوه شی چه خپل ټول موجودیت دخپله وطنه څخه جاروی .

او هر کله چه دیو قام او جامعې په افرادو کښې داقیمتی او حقیقی روح پیداشی هغه تل ژوندی اومامون وی اوپه ډېر ښه شان دخپلی ترقی خواته روان اودشرف اوعزت دژوندانه خاوندان وی .

خلاصه داچه دژبې روزل او دملی ژبې سره مینه اوعلاقه لرل دملت او وطن سره مینه او علاقه لرل دی او دملی ژبې ترقی په حقیقت کښې دوطن ترقی ده :

لیکن څه رنگه چه دیو قام دبل قام سره داختلاط او گډون په اثر دهغوی په دودونو او عقائیدو اوخیالاتو او

لباس او اخلاقو وغیره وکښې خاص تغیرات پیدا کېږي، هم دغه شان دقامونو دژبې دنژ دې والی او اختلاط په سبب همیشه په ژبو کښې هم لوی لوی تغیرات اوانقلابونه پېښېږي ، اولکه چه کم قامونه دزمانې دحوادثو او انقلابونه تحمل نشي کولی اوددنیاڅخه فنا کېږي ، همدغه شان ژبې هم ددې راز تېرماتېل اومزاحمتونواوانقلابونو په اثرفنا کېږي، او یایه ډېر لږ تغیر اوتبدیل دنورو ژبو سره مخلوطه شي اوپه خپله محوه او دبلې ژبې دتکمیل سبب شي اوتل دهغې ژبې خدمت کوي ، لکه چه یوبې جرئته قام دبل قام محکوم شي اودهغه درفاهیت اواستفادې سبب وگرزي او لکه چه یوجسور اوژوندی اوننگیالی قام همیشه دهرراز انقلابونو او تاثراتودهرراز مقابلې دپاره تیار ولاړ وی او هرراز مشکلاتو ته غاړه غړی ورزی ، همدغه شان ژوندی ژبه هم همیشه دهرراز انقلابونواوتاثراتو او تغیراتو مقابله کوی اوبالکل په هیڅ ډول دنورو ژبو تاثراتو څخه نه متاثره کېږي .

اوکه څوک په «سنسکرت «عبرانی ، لاتینی ، ژندی قبطی ، نینوی ، کلدانی ، اشوری ، سریانی . فنیقی ، وغیره ژبوباندی غوروکړی نودې نتیجې ته به ورسېږی چه داژبې ددنیاعظیم الشانی قومی ،مذهبی اوداسی مهمی رسمی حکومتی ژبې وې چه ددنیا لوړو لویو سلطنتو نو په دربار کښې ئې رسمیت اودیرقدر درلود، اوسره ددې مهمو عظیم الشانو ژبو بې دنومه په دنیا کښې بل شی پاتې ندی .

مگر دژبو په امتحان کښې خموږ ملی ژبه هغه کامیابه ژبه ده چه په پیروپیرودې ژبې په دې خپل خوږ وطن افغانستان کښې شپې ورځې تېرولی اوپه غرونواومیرور غواوډا گونو کښې ئې خپل ځان داسی محفوظ ساتلی دی چه ددې به هیڅ وصف اوممیزه کښې دذرې دومره تغیراوتأثر نه لیدل کېږی اوخپل ټول خصوصیات او ممیزات ئې ترننه پوری محفوظ ساتلی دی .

لیکن نن داډېر دشکر مقام دی چه خموږ دملی ژبې پښتو هغه دیپرو اوزده مسافری خلاصه شوه او نن داملی ژبه دخپل ننگیالی غیور زوی اعلیحضرت المتوکل علی الله په بختور سیوری کښې دخپلو نو رو ځامنو سره پېژند گلوی تازه کوی اوپه خپلی مورنی توجهاتو خپل ځامن ځانته راټولوی ، اوداعلیحضرت درسا فکر اومتین عزم په سیوری کښې نن داملی ژبه مخ په وړاندی روانه ده ، اوخموږملت پالونکی اوپه وطن مین حکومت ددې خپلی ملی ژبې په روزنه کښې دهیڅ قسم کوښښ اومساعیاتوڅخه خود داری نه کوی .

نو په دې صورت کښې دافغانستان په ټولو خلقو داخبره لازمه ده چه ددې خپل غم خوار او حاذق او دور اندیش اوملت پالونکی ځلمی پادشاه دلوړو افکارو تاسی وکړی ، اوددې خپلی ملی ژبې پښتودترقی دپاره ملاوتړی اوداخپله ملی ژبه په ډېر قدر او احترام وروزی اوددې دترقی دپاره دهیڅ قسم زیار او تکلیف څخه مخ وانه ړوی ځکه داښکاره خبره ده چه په ننني دنیا کښې دیوقام دشته والی مهم سبب ملی ژبه ده او بس :-

دپښتو د تدریسی هفتی افتتاح

په دی میاشت کښ دنوی کابل داساسی دارالمعلمین ددرسونو دتطبیقی دوری له کبله ددغه مکتب مدیریت اراده کړی وه ، چه یوه هفته دپښتو ژبی د تدریس په خواوشا کښ دمقالو او بیانیو دپاره وټاکی ، اوزیات ادیبان ، او پوهان د انتقاد اونظرئی ښکار کولو دپاره راوبلی . نو په دغه نسبت په (١٤) دسرطان د ماپښین په پنځو بجو دمکتب صنائع په صالون کښ یوعرفانی مجلس جوړ شو ، او دغه مجلس ته ع ، ج والاحضرت دمعارف وزیرد (صدارت عظمی معاون) اود وزارت معارف او ریاست مطبوعات لوړ مامورین او یوڅه اندازه معلمان راغلی وو ، ددې ټولنی مشرتیا ع ، ص ، عبدالجبار خان د معارف لمړی معین ته وسپارل شوه ، او لمړی وینا ښاغلی « پژواك » دپښتوټولنی عمومی مدیر دملی ژبی دژوندی کولو اوپرمخ بوتللو او دمعلمانو دوظایفو داهمیت په باب کښ په پښتو ژبه وکړه . وروسته ترهغی ددارالمعلمین د ری زده کونکو ، چه ښاغلی محمدنبی خان ، ښاغلی محمدانورخان ، ښاغلی منهاج الدینخان نومېدل ، دملی ژبی (پښتو) دلولولود طریقی ، او دهغی دخپرولو دآسانو لارو په خواوشا کښ وینا گانی وکړی ، دټولنی مشر ټو لوناستو خلکو ته ښکاره کړه ، چه که څوك په دې بیانیو کښ چه ددارالمعلمین دایښو دلو شو وا صو لو خلاصه او مطلب گڼل شی ؛ څه اعتراض یاڅه فکرلری ؛ هغه دی خپله نظریه لیکلی وړاندی کړی یادی په خولی ووائی ، دپاره ددې چه ددغه اعتراضا تو له مخه په مو ضو عه اصولو کښ غور وکړی شی . دغه مجلس بیا په شپږنیمی بجی خاتمه و موندله لکه چه معلومه ده ، دپښتو دغه تدریسی هفته دپنجشنبی ١٩ دسرطان پوری او زده شوه اودجوړ شوی کړن لار سره سم دپرو زده کونکو ، دژبی دلولولو د لارو په باره کښ ښی ښی وینا گانی وکړی .

موږ اوس دهغه ټولو وینا گانو څخه ددری تنو زده کونکو وینا گانی چه دلمړی ورځی په ټولنه کښ ویلی شوی وی ، دخپرولو په میدانکښ زدر، او ښا غلو لوستونکو ته ئی وړاندی کوو .

❀ ❀ ❀

دپښتو دژبی تدریس دپښتنو په مناطقو کښ

ښاغلی محمد نبی خان

دمکتب په پروگرام کی دمورنی ژبی ښوونه یو لوی اهمیت اومخصوص (اعتبار)لری . اودنورومضامینو اساس گڼل کیږی . ځکه دنور تعلیماتو تحصیل اوگټنه ، بریالی توب اوپیشرفت دتعلیم پرمورنی ژبه ترلی او اړتیا لری . ژبه یوازی وزله اووسیله دخیالاتو داظهارو لودپاره نده ، بلکه پخپله خیالات بلل کیږی ، نونظر په دې تعریف سره دژبی پوهیدل په ښه ډول سره ډېر اهمیت او لوړ مقام پیدا کوی .

دژبی دوه گټی مقصد او وظیفه : ژبه دوه وظیفی اومقصد پراوږه لری لمړی تحصیلی : یعنی ژبه دمعلوماتو دحاصلو لولو وسیله ده .

دوهم انتقالی : یعنی یوه وسیله‌ده دخیالاتو د انتقال دپاره دی نوپدی رنگه‌دده دښوونی مقصد هم دوه‌دی.

الف: دژبی په مرسته دارویدلو اوویلو څخه څه‌زده کول.

ب : لوړ احساسات او جذباتو دپیدا کولو دپاره وسیله ده . یعنی هغه مالو کښ چه زده کونکی څه لولی اویاڅه اروی پکښ خوند اوجذبه ور پیدا اوژبی ته خپل په ادبی نظر وگوری . دلته زموږ لمړنی مقصد دپښتو په ښوونه کی همدغه پیدا کول داحساساتو دی .

خبری : پدی کښ زموږ مطلب (الف) دادی چه هلکان خپل خیالات اوحسیات دخپلی ژبی په‌واسطه نوروته بیان اواظهار کی . ترڅوچه ارویدونکی هم ددی په مقصد په اسانتیا پوه شی .

ب :ـ زده کونکی دخپل وینا اوویلو په‌واسطه نورو کښ جذبه اواحساسات پیدا کی .

دمورنۍ ژبی دتدریس خصوصی مقاصد : داهم څو برخی لری .

۱ـ لغت : چونکه موږ په‌خپل تدریس کښ دمتوسطی هلکانو سره کار لرونو په‌دی سبب دنوی لغاتو ښوول دلته دومره لازم ندی. ځکه چه‌دوی پخپله ویل اولیکلو دپاره پوره لغات زده لری . منگر هغه څه چه دلغاتو په ښوولو کی اهمیت ډیر لری داستعمالولو ځای په صحیح ډول دی . اوگټه‌ئی ډیره په وینا او ایراد دکمی مقالی دخلقو په مخ کښ اویاپه‌لیکلو دکوم مقاله کښ شکار یږی، چه دلغاتو تدریس مهم مقاصد همدغه دوه‌څیز گنړل شوې .

۲ـ وینا : دمتوسطی زده کوونکی تر یوحده ښه او آزاد خپل مطالب دنوروپه‌مخ کی ویلای نسی. خصوصاً په هغه مالو کښ چه په ایراد دکوم مقاله مجبور شی ددې مطلب دتکمیلولو اوښوونکی‌دپاره بایده دی چه‌ښوونکی هلکانوته موقع ورکی اوپریږدی چه دخپل ټولگی په‌مخ کښ څه ووایی اویا دومره وکی چه هغه څه ورته د مخه ویلو اوټاکل شوی وی په‌مړنتوب سره ئی ادا کړی .. هرکله چه‌دوی پدی کښ تمرین ومیندلو بیا نوری‌مودی هم په‌ښه‌ډول قادر په‌ویلو دکوم مطلب وی .

دا دښوونکی کاردی چه دطلابو دمحاوری په وخت کی پرادا دتلفظ متوجه وی او کوښښ و کاندی چه د هلکانو تلفظ ښه او ټول په یوډول سره واولی .

۳ـ لوستل : ښوونکی ښائی ډیر زیار وکاږی اوپه زده کونکو کی دلوستلو مینه پیداکی ـ دمکتب په تعلیمی کتاب اکتفا و نکړی ، بلکه دلوستلو دپاره نورو کتبو څخه استفاده واخیستل شی . په ټاکلی او قاتو هلکان کتابخانی‌ته بوزی اوهلته ترخپل مراقبت لاندی پردوی کار وکی . دلته پدی کار کښ دقصود کتابو څخه ډیر استفاده واخستله شی . منگر هیر مو باید نشی چه ارامی مطالعی لوړ قرائت دپاره نقصان هم لری . ځکه چه هلکان په‌چپائی مطالعه سره عادت نیسی . خوپه‌لوړ ږغ لوستل کی لږسکتگی پیښوی . پس لازم شو چه هلکان باندی په لوړ ږغ هم . لوستنه وشی . دنظم په‌ویلو کښ چه تر نثر گران دی دمعلم خصوصی‌توجه پوری په کار دی . یعنی داسی . ورباندی ولوستل‌شی چه ارویدونکی هم تری خوند واخلی اوهم پی پوه شی . دلوستلو مواد باید په‌ډیر پام وټاکل‌شی . یعنی دومره گرانتیاونه‌لری چه هلکان پوهیدلو دپاره ، خورا زیات تعمق وکاندی ځکه پدی صورت دلوړو مقاصدو څخه‌روسته پاته کیږی اودښوونی غرض‌هم نه پوره کیږی پیچیدگی په‌قرائت کی موږدتدریس‌دمقصد څخه داسی روسته اچوی چه هلکان ښائی دخپل مورنۍ ژبی په ادبیاتو پوه سی اوتری خوند واخلی منگر پدی صورت نه خوند تری اخلی او نه په لوړه سترگه ورته کتنه کوی . نو بایده دی هغه څه چه لوستل یی هلکانو ته خورا زیر تیا اودقت پیدا کوی پریښوول شی ، اویاپریږ دی‌چه زده کونکی په‌سطحی نظر ورباندی تیرسی . منگر داسی څیز ونه هم شته زیر اوپام ورته لازم دی . او دهمدغی پام واسطه ده چه په‌موږ کی جذبه اواحساسات پیدا کیږی . لکه دځنی ادبی ښاهکارو کتنه چه هرڅومره توجه ورباندی و شی ستومانتیانه لری اوبلکه‌پام ورباندی دخوند او خوشحالتیا دزیاتوالی سبب گرځی .

٤:ـ انشاء : دانشاء غرض‌دادی ، چه‌په‌هغه‌کی دذهنی مطالب اظهار بی‌له‌کوم معاونت اومرسته دبل سړی په قلم یاژبه و کړیشی . اودادوه برخی لری .

۱ :- ځنی مطالب شته چه هلکان دځوانی په وخت کی غواړی نوروته ووایی .

۲ :- هغه مطالب چه یوازی دخپلی دزړه دډاډ دپاره یی ووایی انشاء همدغه دوه مطالب پوره کوی، یعنی .

و- انتقال یارسول دخیالات نوروته- په ژبه یا په قلم .

ب- اظهار دځنی مطالبو دخپل اطمینان دپاره .

ښوونکی بایده داد وه مواد د تعلیم په وخت کی ترنظر لاندی ونیسی اوبیا وړاندی ولاړسی .

۵- هغه ښوونکی چه دپښتو په مناطقو کی تعلیم کوی ترنورو ښوونکو بایدفرق ولری . ځکه هغه اصلی مقصد یعنی دلوستل اوحاصلولوذوق اودجذباتو احساس یوازی دهمدغی محیط ښوونکی پیدا کولای سی .

دښوونکی خصوصیت دادی چه خورا ذوق په ادبیاتو کی ولری درهمنمائی اوتا کلووس پکښی دیروی ، دخپل علم اوعقل په برکت دنایوهی اومصائبو علاج ښه وکړلای شی .

لیکل اولوستل چه دپوهنی اوعقل کنجی ده دښوونکی دزیار په برکت لاسته راځی. که معلم کولای شی چه دلوستلو اولیکلو ذوق زده کونکو ته پیدا کی نو یوه لوی وظیفه په اجرا اوهم دوطن دسعادت اوهوسادگتی دپاره به موفق شوی دی.

❀ ❀ ❀

(۲)

بناغلی محمد انور خان

بناغلی دمرکی مشر اوخواخوږی والاحضرت دپوهنی وزیر صاحب اوگرانوارویدونکو .

غواړم چه یوڅه دپښتو دژبی دتدریس په باب کښی دهغو هلکانو دپاره چه مورنی ژبه ئی پښتونه وی ستاسو وحضورته وړاندی کم !

ښکاره خبره ده چه دپښتو ژبی دتدریس طریقی څخه دهغو هلکانو دپاره چه مورنی ژبه ئی پښتو نه وی کار اخستلای نه شو. مگر داهم مشکل امر دی چه دخارجی ژبی دتدریس لاردی بی له تبدلاتو د دې مقصد دپاره کفایت وکی. که څه هم پښتو، مورنی ژبه دهغو هلکانو چه پښتانه نه دی نه ده، مگر دپاندنی ژبه هم نه بلله کیږی .

ځکه چه داملی ژبه ده نوهلکان دی باید دا رنگه زده کی چه وروسته دښوونځی تروتلو دملی ژبی څخه لکه مورنی ژبه نه یوازی په رسمی کاروکی بلکه په ټولو ځانگو کی دژوند گټه ځنی واخلی. دپاره ددې مقصد باید تحصیل کولو دشاگردانو، دوی ددې قابل وگرزوی چه (۱) په پښتو خبری اومحاوره وکی (۲) هر څوك چه په پښتو کی خبری کوی په مقصدئی بایدپوه شی . (۳) زده کونکی په پښتو خبری وکی په لیك اوپه لوستنی پوه شی . (٤) ځکه چه داملی ژبه ده حسیات اوافکارئی مستقیما لازم وی چه په پښتووی دځه ترتجویز او سنجش د یوه مناسب طریق دتدریس رعایت دیوبل مهم امر دې هم وسی. ابتدا دپښتو دتدریس په شروع کی که څه هم مورنی ژبه ددې هلکانو دومری نه ده زده چه دپښتو په تدریس کی مرسته ورسره وکی مگر دونه ئی زده کړی دی چه سره له احتیاط یو مانع دپښتو په زده کړه کی گرزی . علاوه پرهغه تعلیم دمورنی ژبه په ښوونځی کی نه ورکول کیږی. اوور وسته دټولو مضمونو تدریس هم په پښتو ورکړه کیږی. په ظاهر دا کار ډیر گران ښکاری دصحیح طریق دتدریس اودپوه ښوونکی په واسطه رفع ددې گرانښت کولای شو .

لمړی ښوونکی دی په زده کړی دلیك او لوست پرهلکانو تلوار نه کوی . ځکه چه په ښوونځی کی پنځه کلن اوشپږ کلن هلکان راځی. شروع دتعلیم باید شفاهی وی، یعنی ښوونکی دی ټوله وخت دپښتو په محاوره کی تیر کی . لمړی دی ښوونکی دمحاوری دپاره اسما اوافعال اونومونه دهغوشیانو چه په ښوونځی اوټولگی اوپه کورکی په کار ورځی ورزده کی، لکه، څوکی، چغزی، مشوانی، کړکی، راسه ، ولاړسه ، هلته ، دلته وغیره و روسته تر تجربی داموعد تا کل کیږی . بیاهم دتا کلی وخت دمعلم دزیار کښلو په مطابق ډیر او لږ کیدای سی ، که ښوونکی پرمحاوره ټینگاروکی اوپه ښوونځی کی ئی پالنه اومراقبت وسی نودوی تل خبری په پښتو کوی ، د دې رقم پالنی اومراقبت دپاره دما مورینو اومعلمینو مرسته په کار ده . یو صحیح اساس دپښتو دتدریس دپاره ددې څومیاشتو محاوره ده . وروسته تردی هلکان لکه خپله مورنی ژبه په لږ فرق سره دپښتو تحصیل کولای سی . لیکن دومره فرق لری چه هره ورځ ۵ ساعت د۲٤ ساعتو څخه چه په مکتب کی وی پښتو زده کوی .

شفاهی کارونه دهلکانو په نظر پښتو ډیره ښکلی ښکاره کوی . که دوی په پښتو خبری کولای سی نو پښتو دوی ته ژوندی اومفیده معلومیږی او مینه ئی وپښتو ته ډیریږی. په ژرپرمخ تګ کی دمحاورې داخبره هم لازمه ده چه په تحصیل کی دمضامینو او په ټولګیو کی دوی مجبور وی چه دپښتو په خبرو پوهیږی . او خپل مقصد په پښتو اظهار کړای سی . ډیر ټینګار مود پښتو دابتدائی په محاورو کی وکی ځکه چه په ابتدائی ښوونځیو کی ډیر غفلت کیږی . په کچنی والی او په آغاز کی د تعلیم زده کړه دلهجی او تلفظ آسان وی . لیکن وروسته تر هغه اصلاح ئی ډیره ګرانه ده . ددې قسم هلکانو د صحیح اساس جوړولو دپاره یوشی ډیرضروری دی . چه شفاهی کارونه ، محاوره ، او قصه ویل دابتدا څخه بیاتر تحصیل پوری دهغو هلکانو ته چه مورنی ژبه ئی پښتونه ده ډیر ور کړه سی . ولی چه خبری کول او دنورو په خبرو پوهیدل دژبی یومهم مقصد دی . ددې مقصد په تحصیل کښ دپښتنو کورنی ژوند ډیره مرسته کوی . مګر مانع دغیرو پښتنو ګرزی که په ښوونځی کی جیره ددی ونسی نو یواړخ به ئی کمزور پاته سی . که څه هم اکثر توری دپښتو اودنورو ژبو دافغانستان سره ګډ دی ، بیاهم پښتو درلونکی دځنو مخصوصو آوازو ده لکه (ډوډی ، څټ ټپ ، ګڼ اونور) .

دارنګه آوازونه باید دښوونکی زده وی او پخپله ئی صحیح ولولی . که کم هلك لهجه او آواز دیوه توری نسی ادا کولای ښوونکی دی استعمال او لار دپیدایښت ددی آوازو په واسطه دژبی او غاښو وغیره ورو ښوی . که لمړی پرصحیح تلفظ او لهجه د کچنی دهلکانو دقت وسی صحیح پښتو به په ډیره هوساینه سره زده کی . اود ښوونکی کار به ډیر آسان کی . مګر ښوونکی دی په خصوص کی دهغو هلکانو چه پښتانه ندی تل مراقبت وکی چه وعادی لهجې ته د خپل ژبی ولاړ نسی

لکه تګ اوزغاسته تکلم هم دغه رنګه دیوه قانون اوقاعدې په واسطه نه زده کیږی. دمحاوری دزده کړی دپاره مشق په کاردی مورنی ژبه دمشق پواسطه زده کیږی دیوی بلی ژبی دزده کړی دپاره ډیرتر ډیرمشق لازم دی.

په ابتدا کی دقوانینو او قاعدو ورښوول د ګټی پر ځای ډیر تاوان رسوی . له دې جهت قواعد (ګرامر) ورکړه نسی څوچه هلکان په واسطه دډیرمشق ښه محاوره زده کی - ځکه چه د ویناقوه او اظهار د مطلب تړلی په ډیرمشق او محاوره سره دی . نه په واسطه دزده کړی د قوانینو وغیره و ، د قرائت په ویلو کی دا قاعده ده چه لمړی قرائت دی فقط په لوړ ږغ وویل سی . ورو ورو دچپا ئی ویل هم پکښ ګډیږی او هر څومره چه صنف لویړیږی هغومره قرائت لږ او دچپا ئی لوست ډیریږی په خصوص کی دهغو هلکانو چه پښتانه نه وی دالازمه ده چه نسبت وپښتنو ته دلوړ ږغ قرائت ډیر ورکړه سی . تر څو چه موقع دپاره دمشق دتلفظ او لهجی ورمیسر سی . که ئی څه غلط زده کړی وی اصلاح دی شی . تر څو چه دهغوی دمورنۍ ژبی داستعمال څخه ساتنه وسی . اومستقیماً هر شی په پښتو زده کی . دمحاوری اودانشاء لوست ئی بایدپه واسطه درسمو اوحقیقی شیانو ور وښوول شی . تقریری انشاء دی دانشاء په تدریس کی هم ډیر وی . علاوه پر دې دنورو مضمونو معلمین دی هم مراقبت وکی چه ددوی په ساعتو کی ټوله کارونه په پښتو ژبه اجرا شی . دامراقبت تراتم صنف پوری ضرور دی . ځکه چه داعادت تراتو کالو پوری پخیږی . زده کوونکی نسبت و خپلی مورنۍ ژبی ته اظهاردعلمی ویناوو په پښتو کی په هوساینه اوښه ترا کولای شی . که څه هم پښتو ددوی مورنۍ ژبه نه ده مګر په ښوونځی کی ئی خپله مورنۍ ژبه نی ویلی ده اونی وائی . نوددوی معلومات په خپله مورنۍ ژبه کښ تقریباً مساوی دیوه ناوینکی سړی دمعلومات سره دی. ځکه ترجمه ودوی ته لکه چه طرفداران دترجمی عقیده لری ګټه رسولای نسی او هغه نقص چه مخالفین دترجمی عقیده لری ور رسیږی له دی سببه دپښتو دترجمی تدریس په مختلفو مدار جوکی دی هیڅ نه وی . دداسی هلکانو دپاره ، لنډۍ ، متلونه ډیری خوږی ترانی اونورساده بدلی ورکړه سی څوچه دتفریح په ساعتو کی خوند اوحظ ځنی واخلی .

لنډه ئی داچه (۱) دمخه تر ، زده کولو دلیك اولوست دیومناسب وخت دپاره تکلم اومحاوره لازمه ده .

(۲) دقصود تعلیم او شفاهی محاوری دی ډیری وی . دتحریر لوست شفاهی حصه ئی ډیره مهمه ده .

(۳) په لوړ ږغ ویل هم مهم دی .

(٤) ترجمه دی هیڅ نه وی .

(٥) ترانی ، لنډۍ ، نظمونه ، متلونه دی ډیروی .

(٦) دټولو ښوونکو اومامورینو مرسته هم په کارده .

ښاغلي منهاج الدینخان

ښاغلی دمرکی مشر ! اوخوا خو ږی والا حضرت دپوهنی وزیر صاحب ! او گرانو اوریدونکو !

پخواتردي ددي مقالې دپښتو ژبی دتدریس دطریقی پهخصوص دپښتنو اوغیر پښتنو په محیط کښ ایراد شوې اوس زه دا مقاله چه مطلب ئې دتدریس طریقی دپښتو ژبی پههغه محیط کښ چه پښتانه اوغیر پښتانه دهغو چه مورنۍ ژبه ئې پښتو ده سره یوځای ژوند کوی لولم .

تول پوهیږو چه دهرمضمون په تدریس کی ښوونکی لههرشی نهډیره برخه اخلی. نوځکه لمړی دهغه ښوونکی پهباب کښ چه دلته درس ورکوی غږیږو پس لههغی به دتدریس طریقی ته ولاړ شو .

دانګاره خبره ده چه ځموږ په محیط کښ دواړه فرقی دهلکانو پیدا کیږی یعنی دا سی هلکان هم شته چه په اتهلسو غیر تعلیمی ساعاتو کښ ډیری کلمی دپښتو نهآوری اوهم داسی زده کوونکی چه درستی خبرې ئې په پښتودی پهدغه تولګی کښ سبق وائی .

وگوری چه څنګه دوی فرقی سره یوځای شوی اویوتولګی ئې جوړ کړی. اوس ښوونکی پهداسی تولګی کښ څه کولای شی . کهسم دپښتنو دمعلومات سرهخپل درس ته دوام ورکی . ښی مقالی لوړ نظمونه اونثرونه ، خیالات اوادبیات دوی ته وروښیل شی نورهلکان دخپلی متعلمی په دوری کښ هیڅ شی نه شی زده کولای . اوکه غیر دپښتنو پسی وگرزی هغوی ته آسان لغتونه وښئی اوابتدائی محاوره ورسره وکی دپښتنو وختخوشی تیر یږی اوکه ساعتونه دویشی څنګه چهخو ساعته دپښتنو اوڅه هم غیر دپښتنو سره کار وکی - بیاهم نیمائی عزیز وخت دهلکانو تلف شو .

پهدې سبب هغه معلم چه پهداسی محیط کی درس ورکوی سرهلهدې چهدپښتنو له وجود څخهیوڅه گټه کوی بیاهم په ډیرو زحماتو ککړیږي چهرفع ئې پرتهلهعزم ،ثبات او ځښته ډیره زیاره دمعلم بلشی نسی کولای خوچهمعلم ډیری تجربی ونه لری پخپل مقصد چهدپښتنو ژبیتهنوره ترقی ورکول اوغیر پښتنو تهدپښتو ژبهورښیل دی نهشی کامیابی دلای نوهغه معلم (ښوونکی) چهپه داسی محیط کښ درس ورکوی باید دااوصافولری .

۱:- مورنۍ ژبه ئی پښتو وی .

۲:- د پښتو په ادبیاتوکښ ډیر معلومات ولری .

۳:- دپښتو تلفظ ئی بالکل صحیحوی .

٤:- دهغهمحیط په لغاتواواصطلاحاتو کښ ډیرقابلوی .

٥:- دکار اخستلوښه قابلیت ولری .

دهری مکملی ژبی په تدریس کښ (چه پښتوهم په وسعت او تکمیل کښدرجه ددیرولوړوژبولری) لاندنی شیان ضرور دی :-

محاوره - قرائت -انشا- املا - او قواعد .

۱:- محاوره - ځکه چه اوس ز موږ اساسی مقصد دپښتو محاوره ده نوضروردیچه محاوره د پښتو په درس کښ ډیره برخه ولری .

په محاوری کی باید ښو ونکی د پښتو څخه ډیره استفاده وکی اودوه دوه مختلف هلکان سره په محاوری راولی - منګر په محاوری کیهغه هلکان چه پښتانه نهدی ډیر کارو کی په محاوری کی لازمه ده چه مکالمه یو خصوصی ځای ونیسی معلم ته لازمه ده چه د محاوری په ساعت کی سم دضرورته سره له رسمو نواوعکسونوڅخه کار واخلی . منګر په دی ساعت کی یوشی ډیرزحمت معلم ته پیښوی چه د صنف بی انضباطی ده .

که چیری معلمدډیری تجربې خاوند نه وی د صنف انضباط ورځنی خرابیږی اوپښتانه ځانونه پرته ده متعلم کوم بل شی گڼی .

۲:- قرائت دواړو فرقوته ډیر لازم دی دارنګه درس ورکړه شیچه ددرس نوی لغات وویل اوپه معنی ئی هلکان وپوهول شی بیاپهغیر دپښتنو تکرار شی څو چه تلفظئی زده کی پس لههغیښوونکی پهخپله یاپکمپښتانه دنمونی دپاره ولولی بیائی په تولو هلکانو تکرار کی .

۳ - انشاء : -مقصد دانشاءدادی چهبی کمکدبل سړی پخپله هلك تکلم اوپه قلم دمطلب اظهار وکړی شی - نو ددې دپاره پښتو مقالی لوړخیالونه شه نثرونه اوخو ږی

بدلی ولیکل شی او په نورو مکتبو نو او کچنۍ غزلی اولنډی قصی وویل شی .

(٤) املا ـ په املا کی ځنی زاړه لغات له پاره د تکرار او ځنی نوی له پاره د صحیح لیکلو چه دواړو برخو ته فایده و کی املا وویل شی .

(٥) قواعد : ـ صرف او نحو په هری ژبی کی که چیری یوازی تدریس شی درس ئې وچ تریخ او بیخونده راځی او څوك پری ، نه پوهیږی .

ددې دپاره بایده ده چه قواعد د پښتو هم ځانته بیل ساعت ونه لری .

بلکه د نورو درسو په دوران کی چه قرائت ، محاوره او انشاوی بایدسم د ضرور ته سره درس ور کړه شی .

د نتیجی په ډول حضراتو ته عرض کوم چه معلمی په داسی محیط کښ آسان کار نه دی او موږ اوس کمه قاعده پرته له څه چه مو وویل د نمونی په ډول هغه معلم ته نه شوور ولاندې کولای ، بلکه دا ډېر یو سخت کار دی او اړه لری د ځښت ډېر زیاره سره د معلم .

خپله معلم پخپل کار ښه پو هېږی ، هغه شیان چه په قرار د ضرورت ګړندی او هو ښیار معلم په داسی صنف کی کوی موږ ئې نه پو هېږو یوازی دومره ویلی شو چه معلم باید د پښتو فضا جوړه کی ځکه چه د ته خدای ډېر معاونین ور کړی دی د ته لازمه ده چه د دغو معاوینی نو څخه ښه استفاده وکی ، دی نه یوازی په صنف کی د پښتنو نه کار واخلی بلکه د باندی له مکتب هم دوی په کار واچوی .

او هغه هلکانو ته چه مورنی ژبه ئی پښتو نه ده شوق ورپیدا کی څو چه د پښتنو سره پخپلو کوڅو او کلو کی هر کله په پښتو وژغیژ ی او په دې شان خپله مبارکه ملی ژبه زده کی .

د شاعر آرزو

یا گو ښه وای له سړیو — پر آسمان باندی سحاب وای
یا عاشق وای پر مهرو یو — یا معشوق لکه آفتاب وای
چه نه دا شوی نه هغه شوی
شیر محمد کشکی تراب وای

(شیر محمد ننگرهاری)

از مناظر گل کینا درقصر صدارت عظمی

مشاهیر

خان میر

ښاغلی « جرار »

خان‌میر په‌قام مهمندی دچپرهار دغزو په کلی کښې زېږېدلی‌دی ، دی دروانی طبعی څښتن اوله ملی جذباتو اواحساساتو څخه‌ډک پروطن مین اوننګیالی شاعر دی . دده ټول اشعار عشقی چهار بیتی او غزل‌دی چه تر اوسه پوری دخلکو په خولو کی جاری دی . خان میر له‌علمه څخه اوسطه درجه درلوده د ده په خصوصی ډول کوم اثرنه‌دی چاپ شوی اونه‌ئی مونږته تراوسه پوری څه مسودې اواثار لاس ته راغلی دی گمان کاوه شی که پلټنه ئی وشی څه‌اثار به‌ئی پیداشی . خان‌میر د تصوف په دنیا کښې هم گرزېدلی دی لکه دده له یوفرد څخه دامعنی خوراښه څرگندېږی :

چه ئی زړه په معرفت روښانه نه وی
هغه زړه په‌حقیقت کښې توره سمځ ده

له ډېری پلټنې څخه ورو سته ماته د خان میر یوه حماسی چهاربیته لاس راغله مگر معلومه نه ده چه دائې په کوم نسبت او د کوم بحران په موقع کښې وبلی ده مگرپه‌عین زمان کښې دده له وینا څخه معلومېږی چه‌دی دپښتو نولی له جذباتو اواحساساتو څخه ډک پښتون دی نو زه هغه چهار بیته دنمونې په ډول لاندی لیکم :

په‌چپ کښې ډال په ښی خنجر نیسمه
لوری د خصم برابر نیسمه
یابه له صدقه خپل وطن شی ځما
یا به په سرو وینو کفن شی ځما

ښاغلی « جرار »

که په رښتیا د پښتون ځوی ومه
د پښتنې په غېږ کښې اوی ومه
هو مړه به تا غلیمه پرې نه مه
چه ترڅو سر در باندې کېنه دمه
په خپله توره افتخار کومه
لکه د مور او د خپل پلار کومه
لکه دنمر غوندی روښانه ځما
هر چا لیدلې ده مړانه ځما
وطن دسر و گلو نو باغ گڼمه
کفر ورته دسیاه زاغ گڼمه
یا به بې زاغه دا گلشن شی ځما
یا به په سر و وینو کفن شی ځما

❀ ❀ ❀

په هر طرف دغره زمریان لرمه
دتور دغرو وږی بازان لرمه
غلیمه تابه په دی ښکار کړمه
داخوږ ژوندون به په تازار کړمه
پښی وکاږه چه بې آب نه شی
د پښتنو به اور کباب نه شی
پښتانه هسې ضعیف قام نه دی
پښتون هرگز بې ننګ اونام‌نه‌دی
تا دپښتون دتوری خرپ لیدلی
دتا دپښتون په غلیم ترپ لیدلی

واړه اولاد به دی دښمن شی ځما
یا به په سرو وینو کفن شی ځما

❀ ❀ ❀

په درو غونه دی دغه لاپی ځما
په غوږ واوره واړه صاپی ځما
که چېری بریدمی یوزل راغی پتا
پوه شه اجل دی داچه راغی پتا
ما ته وصیت دمور او پلار شوی
یو زلته نه چه په څو وار شوی
دننګ په ځی ور کوی سرزامنو
شئی هسکی سترګې په محشر زامنو
وصیت دپلار به ګاهی هېر نه کړمه
څوزان دهاغه پلار په څېر نه کړمه

کله به هېر د پلار سخن شی ځما
یا به په سرو وینو کفن شی ځما

❀ ❀ ❀

زه چه لاله په چول کښ ګورمه
یاد سره ګل په خوا کښ ښورمه
د پلار دوینو بشارت را کوی
خاص پسرلی ئی هرساعت را کوی
د شهید انوار مغان ګورمه
چه په باغچو کښ سره ګلان ګورمه
په باغ چه سروګلو جپې راوړی
له شهید انوئی تحفی راوړی
«خان میره» بس، قلم دې ترق نه وهې
په دازړه وړونکې خوږ سبق نه وهی
یا به جنت دشت او دمن شی ځما
یا به په سرو وینو کفن شی ځما

رباعیات

وخت دسهار دی بلبل چغار کا
خو برو یان در ومی د باغ په سیل
درختی په جوش دی هوس د بار کا
عاشقان ګرزی طلب د یار کا

❀ ❀ ❀

صبا خبر شه په ګریانی ځما
روح دی له تنه را څخه یو وړ
ویار ته عرض کړه پریشانی ځما
نوره به څه وی زندګانی ځما

❀ ❀ ❀

د خدای د پاره ځما حبیبه!
زیات می ترحده د هجر رنځ شو
د رنځو رانو د رنځ طبیبه!
لږ خبر واخله له ما غریبه

❀ ❀ ❀

څه رنګ عنقا شوې ای ځما مراده!
بی ځایه طمع زه شمس الدین کړم
عمر می درست کړ پر تا بر باده
د پری څه دی له آدمزاده؟
(شمس الدین)

د پخوانیو مشاعره

غواړو چه په دی مجله کښې هم ښاغلو لوستو نکو ته د پښتو یوه پخوانی ز بر دسته تاریخی مشاعره وړاندی کړو .

دامشاعره که څه هم اصلاً خوشحال خان شروع کړې ده ، اما عبدالقادر خان دهغه دغزل قافیه اړولی اوپه بل ډول ئی دپلار استقبال کړی دی اونورو شاعرانو دعبد القادر پیروی کړی ده اودده غزل ئی مطرح کړی دی .

خرنګ چه مشاعره دطبیعت آزمایی یومیدان دی ، نو ځکه دی پښتنو شاعرانو دامشاعره په ډېر شور اوزور سره کړې ، اوهریو په عبدالقادر ورتېره کړی ده ، لکه چه معلومیږی دامشاعره په پښتو کښې یوه غوره اوبهتره مشاعره ده ، چه دپښتو دیوزبردست ادیب له خوا شروع شوی ، اونورو پیاوړو ادیبانو پکښې ځانونه شریك کړی دی دپښتنو دلوئی اعتلا ، او ملی غرور روح په دی مشاعره کښې ښه څرګند . اوواضح دی دوی په ډېر ښه صورت ددې مشاعری حق اداکړی دی ، اوپه پښتو کښې دایوه لویه مشاعره ګڼلی شی .

داشعرا خو ك دعبدالقادر معاصرین اوخوك دده نه وروسته تېرشوی ، ددې ټولو سوانح دشعراؤ په تذکره کښې بیان شوی دی دلته ئی مونږ فقط دمشاعری غزلونه راوړو . اوښاغلو دپښتو مینانوته دایوه ادبی تحفه وړاندی کوو : (رشتین)

❀ ❀ ❀

خوشحال خان :

لکه زه په یار مین یم بل به نه وی مین هسی
لکه زه پسی غمجن یم بل به نه وی غمجن هسی

چه می وو ژنی په خپله یا په ما باندی ژړا کا
څه ښه یار دی ښه ئی مینه کشتن هسی شیون هسی

مخ ئی درست سره ګلزاردی رنګا رنګ اری ګلونه
تفرج دبهار وکړه ګهی نشته ګلشن هسی

زړه داغدار غرقاب په وینو لاله ګل وته نظر کړه
هیڅ شهید نه دی راوړی له از له کفن هسی

تورو زلفو ته ئی ګوره ښائسته دواړه رخساره
دجهان په باغ کښې نشته سنبل هسی سمن هسی

که دګل پاڼی کړی ښکته لابه هم باندی خرخیږی
دا نازك بدن چه ستا دی دچا نشته بدن هسی

لکه زه ئی نندارہ کړم ورځ شپه په خپله خونه
خوار مجنون نه ولیدلی په درست عمر دیدن هسی

دارم آرام می وموند ستا په غولی کښې خوشحاله
خوښ له بخته له قسمته چه ئی را کړ وطن هسی

چه «خوشحال ختك» ئی کاندی په پښتو ژبه خبری
په پارسی ژبه به نه وی که پوهیږی سخن هسی

عبدالقادر خان :

لکه زه په یار مفتون یم بل به نه وی مفتون هسی
لکه زه پسی محزون یم بل به نه وی محزون هسی

پرون غیږ په غیږ له یاره نن تر میان شو هوا دونه
دا انصاف دزمانی دی چه نن هسی پرون هسی

په کاته دستر ګو زړه وړی په خبرو لخنی صبر
دجهان په مخ به نه وی سحر هسی افسون هسی

په قیامت به هم په هوښ د محبت لیونی نه شی — چه به روغ شم بی دیدنه ځما نه دی جنون هسی
خط په مخ ددلبر راغی شور دزړه په بازار گډ شه — چه دحسن بادشاه لیږدي ددې خطدی مضمون هسی
دژوندون فایده داده چه دیدن کوی دښکلیو — چه ئی دافایده نه وی مرگ بهتر تر ژوندون هسی
آئینه دخپل زنگون وما ته جام جهان نما شوه — ځکه سر لرم تل ایښی د فکرت په زنگون هسی
داغزل په پښتو ژبه چه بیان «عبدالقادر» کړ
دروغ جن یم که بی خانه وائی بل یو پښتون هسی

معذالله :

لیونی کړمه عالم ته ستا دستر گو افسون هسی — خدای ځما تر لاس را کړ دا دولت دجنون هسی
جور جفا له اوسه نه دی دخو بانو په عشا قو — له اذل مقرر دی د دې قوم تړون هسی
غنچه غرقه شوه په وینو چه ئی فکر ددهن کړ — له قامته ئی شوه سرو لکه بید مجنون هسی
که و مخ وته ئی گوری یوه شمع کا فوری ده — په کنږو ورځو ئی ځیر شه دلو گی دی نمون هسی
دعالمه وسعت که گوری تردوه گامه زیاتی نه دی — لکه راغلی په پوښتنه تر به وو ځی بېرون هسی
دځما دآه داد خواه دی چه دحسن دامنگیر شه — ستا د مخ له خطه ما ته معلو میږی مضمون هسی
په وصال چه مشرف دی له هجرانه خبر نه دی — په ارمان به ئی جدا کا خوی مدام د گردون هسی
په خلوت دننه راز کړی بیا بهررا سره ناز کړی — دا د کوم عدل انصاف دی بیرون هسی درون هسی
په هجران کښ ځما عمر پاس په دارباندی تیرېږی — هیڅ دعمر په شمار نه دی چه تیرېږی ژوندون هسی
روایت ځما د قتل تا راوړی دی پوهیږم — چه دی خط په رخسارو کیښ ددې خط دې مضمون هسی
«معذالله» دی ځواب وکړ په پښتو عبدالقادره
اوس ثانی دستا پیدا شه په داد ور پښتون هسی

محمدی :

داسور اوردی که څه نوردی اوکه تاود بیلتون هسی — لکه وگی چه می وریت کړ په تنړا کو لړمون هسی
سپیلنی ځان سره لنبه کړچه تړق وچاود په لوگی کښ — زیست جداله یاره دارنگ څه پکاردی ژوندون هسی
نه یواځی لاله گل دی ډوب دسرو وینو په جام کښ — ستا دغم وژلی واړه ځی خښیږی گلگون هسی
نه ئی حسن ستا په شان وه نه ئی عشق زیات وه له مانه — د لیلی قصه که شته دی په عالم د مجنون هسی
خط په مخ دنگار راغی ښایست خپل بار ولیښ لاړشه — اوس ئی څه په ملالو لم ددې خط دی مضمون هسی
په لنبه د آه و نه سه شین په هغه شان مدام دی — ستا دغم بوټی په زړه کښ چه ځما شه زرغون هسی
و مړستا په بیلتانه کښ ددیدن په ارمان گوره
«محمدی» غندی لا بویه چه پیداشه پښتون هسی

عبدالقادر خان :

لکه زړه چه ځما وسو ستا په غم کښ بیلتون هسی — مه شه وریت دجدائی په اور کښ بل یو لړمون هسی
خط په مخ د ښائسته و د قضا نښی هم داسی — هر کمال زوال پذیر دی ددی خطدی مضمون هسی
لکه مادیار په غم کښ وجود وسو بیا ژوندی شوم — هیڅ پتنگ موندلی نه دی له چراغ ژوندون هسی
لکه موج په بیلتانه کښ ځما زړه وهی له سترگو — په دا موج کله بهیږی جیحون هسی سیحون هسی
ستا ځواب «عبدالقادره» په دارنگ صدر خوشحال کړ
څوبی خانه زه ویل کړم بل به نه کا پښتون هسی

اشرف :

د آشنا له تازه خطه را معلوم شه مضمون هسی — د وصال دولت چه تیر شه هم به تیر شی بیلتون هسی

عشق رهبر دعاشقانو دآشنا په لوری بیائی — لکه عشق دی بل به نه وی په دا لار رهنمون هسی
که ژوندون دی خوهغه دی چه دیار په یاد تیریږی — چه بی یاده دیار دورومی پکارندی ژوندون هسی
په شتو درویو ستر گو هر گذار می رسالگی — چه هیچیری خطانه څی ددلبرونیو زنگون هسی
لکه باز واخلی کوتره په منگل هسی ستاستر گو — زړه ځمائی له تن یووړ هم ئی عقل سکون هسی

چه تاوی عبدالقادره کوم پښتون به بی خوشحاله
داشان وائی «اشرف» ووی خدای پیدا کړ پښتون هسی

عثمان :

بی دخپل آشنا له وصله تیرومه ژوندون هسی — چه به نوی په دنیا کښ بل محزون او زبون هسی
له اوله څو پیدایم واړه سر په واویلا یم — تروبه څه وچاته وایم چه نن هسی پرون هسی
ته می تن جامه مه گوره لړمون ډک لرم له اوره — دفانوس په دودای وروره کړم دتر کو بیلتون هسی
ستا دډیره ډیره جوره ملامی ماته شوله غبرگه — بل به نه وی لکه زه یم زوړندسر په زنگون هسی
داشناله ډیره غمه شومه سر په غره په سمه — هیڅوک مه شه لکه یمه بل بی صبر وسکون هسی
حریف نه وینی خټکه لافی ډیری وهی ځکه — چه به هیڅ پښتون ونه که بل غزل په مضمون هسی

چه قلم می په سیاهی شه به کاغذ باندی راهی شه
په «عثمان» دی آفرین وی چه پیداشه پښتون هسی

عبدالغفور :

لکه قدد یارموزون دی بل به نه وی موزون هسی — که ئی درست جهان تمثیل کړم صدهزار دی افزون هسی
یوزه څه چه څوک مین شی معشوقی تری استغنا کا — درست جهان په حال آگاه دی لیلی هسی مجنون هسی
په صفحه دښکلی مخ ئی خط دوینو داتقریر کا — چه شاه قتل دعالم کاددی خط دی مضمون هسی
ناصح وائی صبر ډیر کړه غم اندوه له دله هیر کړه — خدای هم دی ځما په څیر کړه چه پری تل وی شبخون هسی
بیرون ترتازه لیده شم درون ډک دزړه په وینو — دیارغم برگ حنا کړم درون هسی بیرون هسی
راشه گوره ځما لاله کمال نه دی بی زواله — ددلبر له خط وخاله رامعلوم شه مضمون هسی
وکړه تا گوره خټکه داخبره ډیر سپکه — چه به بل پښتون ونه که داځواب په قانون هسی

که منصف عبدالقادر شی د «غفور» په قال ناظر شی
امیددی چه پری شاکر شی هر یو حرف دی موزون هسی

عبدل :

لکه زه یم ستا په غم کښ ډک له وینو لړمون هسی — نه به پان نه به حناوی ډک په وینو درون هسی
ستادحسن سپاه جوړدی په داخط زره پوش شه — دعاشق کوربه تالا کاددی خط دی مضمون هسی
په ازل به دیوانه و په عالم به افسانه و — بل به څوک دده په څیر شی دانصیب دمجنون هسی
چه مین په دلربا شوم په مثال گل رعنا شوم — په ظاهر زیړی لیده شم اندرون یم پرخون هسی
خط په مخ دښائیسته وصف بندی و کړه ډیره — دښائیست دکان به لوټ کاچه ئی و کړ شبخون هسی
عشق هاتی دی که زمری دی په هر چادده بری دی — شیخ زاهد په پنجه واخلی نور پری کیږدی زنگون هسی
عشق وعقل سره گوره څه جگړه کا ځما وروره — عقل شرم حیاغواړی عشق دی خوښ په جنون هسی
څه افسون کادیار شونډی چه کوی چاته خبری — دل ودین تری دواړه یوسی چه پری و کړی افسون هسی

ستا ځواب عبدالقادره په ښه شان دی صادر کړی
هم «عبدل» دی جواب وکړ چه پیدا شه پښتون هسی

دادب گلونه

دطبیعت سره صحبت

دانگلیسی شاعر شوسرله آثارو

یوگړی دمخه دباغ گلونو زماسره صحبت کاوه .

ماددوی وصحبت ته په ډېرزیات اشتیاق او خوښۍ غوږ نیولی و - سپین گلاب ستاله تندی څخه، سور گلاب ستاله باړخو څخه اوهغه سوسن چه ویوه خواته کوږ اوستا ښکلی وېښتان په هغه کی ټول شوی دی ستاله سره وماته ورو، ورو په محبت گډوه - ..

ټوله گلونه ښکلی وه - مگر هر گل ویله چه ته ترده ډېرښه ښکلی یې !...

❀ ❀ ❀

باغ می پرېښود ، دځنگله لورته رهی شوم ...

په هغه ځای کښ می خورا له مسرته ډك آوازونه چه دښوښومرغانو له خولور اوتله وار وېدل .

هرالو تونکی نغمه ویله :- ته څونی خوږیې !..

ټولومرغانو په یوه ژبه تکرارو له :- څونی خوږیی !..

دښاغلی «رشتیا» ترجمه

څونی خوږیی !.. ځکه چه ته تردوی ډېر خوږ یی !. ..

❀ ❀ ❀

ځنگل می پرېښود وسیندته ولاړم .

هلته می دسیند له څپو څخه یوه پخوانۍ قصه وارو ېدله هغه قصه چه زما اوستا پرشاوخوا گرزېدله .

ماد زرو ، زرو کلو را هیسی ستا سره څنگه مینه درلوده ؟.

اوته لا په هغه وخت کښ څنگه ښکلی محبوب وې ؟

لکه نن چه ښکلی یی !

❀ ❀ ❀

هر کله چه ماداټوله شیان وارو ېدل - دگلونو محبت - دمرغانو نغمی اودسینډ دڅپو قصه ، نوزماټوله هستی او موجودیت ستاپه مینی ډك شوه اونه می شوه کولای چه اوږدمهال دی له تاڅخه لیری اوسم ، په دی نسبت نو بیا ستاوخواته دروځغاستم - اودادی اوس می ستاپه پښو کی ځان واچاوه ! ....

نه مین کېږم

دهوشید له آثاروڅخه دچین معاصر شاعر

نه مین کېږم ، ځکه چه مینه ضعف ، نا پوهی او سپکتیا ده ، نه په پسرلی خوښ ، او نه په خزان خواشینی کېږم .

غواړی ، گلونه وغوړېږی اویاپرمځکه توی شی ...

بلکه لمرسو ځونکی شی ، یا ئې ترنځه ونیسی اویا ولوېږی . .

زماپه عالم پوری څه اړه لری ؟ . .

مین دآسمان تعریف کړی دی او تل ئې درنگ صفائی ستائی - مگر زه غواړم چه وهغوته وخېژم او هغه دخپلی گټی دپاره تسخیر کړم اودده اه لوړ والی څخه ودنیاته وگورم !

پرڅه به دخپلی طالع دخرابۍ څخه شکایت کوم اولکه مریی پرمځکه پروت ژاړم به ؟

باید جنډې (بیرغ) پراوږه واخلم او خپل مټان

دجګړې دپاره آموخته کړم ! . .

باید ظلم او عبودیت د زما نې له غاړې څخه وباسم ! . . .

بایدزمادپښومقابل ته دښارو دروازې وپرانېتلی سی.

باید بیله ځانه وبل چا ته دبرې او قهرمانۍ فرصت ورنه کړم ! . . .

ژوند لنډ اومرګ وستر ګوته ولاړ دی ، باید له خپله ځانه شهرت پرېږدم اودمرګ بالعکس تل ژوندی پاته شم ! . . .

باید چه زایل ئې کړم، زائیل ئې کړم ، داتوله ضعف.. پرخپل نفس باندی غلبه حاصله کړم ، څوو چین ته نوی روح اوجاوید ژوندو مومم !

سرېتوب او حیوانتوب

دویکتورهوګوله اثاروڅخه ترجمه

داروپا دادبیاتو نمونه

ویکتورهوګو دفرانس یوخورالوی ادیب تېرشوی دی چه داسی خوازه خوازه اشعار اوښه ښه مضمونونه اری چه له یوې خوا دادبی ښېګڼو څخه ډګ دی اوله بلې خوا په کښې ډېر لوړ اجتماعی اواخلاقی مقاصدپراته دی چه په توله دنیا کښې ئې شهرت موندلی دی اوخلکو په هره ژبه ترجمه کړی دی . نو موږ دلته د هغه لوی ادیب یوه وړه منظومه چه دقیصی په ډول جوړه شوی ده اودیوی اجتماعی نظریې له منبع څخه ئې اخستې ده ، خپلو ګرانو لوستونکو ته په خپله خوږه ملی ژبه وړاندی کوو :

خره او چنګښه

یوګاډیوان په یوه لاره تېرېده چه په ګاډی پورې ئې یوه تکړه خره تړلې وه . په لاره کښې دهلکانو یوه ډله ولاړه وه چه دساعت تېری په ډول اوپه بیړه بیړه ئې پرېوې ضعیفې چنګښې باندې تیږی ورولې دغه بدمرغه حیوان دتېږو په ویشتلو نیم ځانې شو اوپښې اولاسونه ئې قپ قپ شوه نو کوم وخت چه ګاډی ورنږدې شوه نو دغو هلکانو له هغه څخه لاس واخست اودګاډی په تماشا شوه نو ګاډی والا چه دهلکانو شوق او ذوق ته وکتل دده هم مینه او شوق پیداشو چه ددغی غمجنی ډرامی په اخری پرده کښې دی هم لوبې وکړی . نوده کوښښ وکړ چه هغه عاجز حیوان دګاډی تراربی لاندی کړی. مګرخره هم له دغوترخو واقعاتو څخه بې خبره نه وه او خورا زر په دغه ظالمانه مقصد باندې پوه شوه نو دلته دحیوان توب اوانسانیت په منځ کښې جګړه شروع شوه :

ګاډی وان کوښښ کاوه چه ارو مرو دګاډی اربه پرچنګښې ورولی لیکن خره له دغه بده کاره څخه دزړه مخالفه وه . اوتینګار ئې کاوه چه دا ناوړه فتنه نا کامه شی . ګاډی والا چه دخرې لجاجت ولیدډېر په غصه شو اود دغه تینګار ماتو ولو دپاره ئې له لېښې څخه کار واخیست ده په خره باندې ډېر سخت وارونه کول اوخره ئې دچنګښې خواته را اړوله ... منګرچېری ؟...

دخرې عزم پردغه ښه کار باندی دهغه سړی ترعزم څخه ټینګ وه په اخرکې خرې تول وهل پرځان واخستل لا کن پردغه خوار جنګښې باندی لکه بیځانه په وینو ککړ په لار کښې پرته وه ، ورونه خته . . . دغه رنګه ښه کار پربدکار باندی وموند . هوګو چه دلته رسېږی وائی اوس نوتاسی ووائی چه دغه بې شعوره خره دانسانانو پرافلاطونانو او ارسطو ګانو باندی شرف نه لری ؟ ؟ ؟

(درشتیاترجمه)

تخت استالف

مبحث فولکلور یاحیات قدیم افسانه‌ها، ترانه‌ها، رسوم، رواج ...

ستیپاز ځنګه فریتاز جوړ کی

د ښاغلی «خوږمن» ترجمه

ستیپاز یو بزرګر ؤاوفریتاز یولوی زمیندار .

دافریتاز په پخوا وختو کی اوسیدی ،دی یو ډیر بد پوزی اومغروره سړی و،قانون اوټول شیان دده په لاس کی‌وو، په‌هغه وختو کی زمینداران ډیرغښتلی او در سوخ او نفوذ خښتان وه ، اوهر څه چه به‌ئې زړه غوښت ، هغه ئی کولای سوای .

هر کله چه‌به فریتاز یو کرهنی ولیدی چه‌یو آس یا یوغویی ورسره دی ، نوبه ئی ورته وویل :«ښه، پلاره ، دازړه مزه‌به دراباندی خرڅه نکی ؟»

په‌مقابل کی ددې پوښتنی، هغه‌ځښتن دآس‌یادغوایی مجبور ؤ چه باندی خرڅ ئې کی ، انکار بی‌فایده ؤ که څه‌هم فریتاز یو آس په‌هغه بیه(بیع) رانیوی چه‌یوه‌چرګه څوك رانیسی ، منګر سړی څه کولای سی ، هغه خوار کرهنی‌مجبور ؤ چه‌هر سونه‌پیسی چه‌دده‌لوی بادارور کی هغه‌بی زوږه ومنی ، ځکه که‌ئی‌ونه منی ، نودابادارئی امر کوی‌چه دی سړی دده سره سپین ستر کی اوګستاخی کړیده‌نوپس له‌هغه به‌ئی‌دونه وواهه‌چه‌دهغه دژوند، به‌څه نسوپاتی منګریوه ورځ . فریتاز دیوه داسی سړی سره ځامخ سو چه‌هغه ترده ډیر غښتلی اومکرجن ؤ ، داسړی ستیپاز ؤ .

ستیپازخپل‌غویی یوچیری، بیوی، نوهر کله چه فریتاز دی ولید ، هغه‌خپله‌زړه پوښتنه چه ده‌به د هرچاڅخه کوله دده څخه‌ئې هم وکړه : «ښه ، پلاره ، دا زړه مزه به دراباندی خرڅه نکې ؟» دائې ورته وویل او وردمخه سو ستیپازځواب ورکی : «ولی به‌ئې نه کم ؟ »

فریتازدستی د جیبه څخه یوڅو پیسې راوکښې او غوښتل‌ئې چه غویی بوزی ، منګرستیپازورته وویل چه‌که پرته پر پیسووده ته اجازه ورکړه سی چه د غوایی لکی هم واخلی نو به ښه وی . د دې عجیبی غوښتنی څخه د بزرګر، زمیند ارخوشاله سو اودده درخواست ئې ومانه نوستیپازهم دغوایی‌لکی‌غوټه پرېکړه اوکورته‌رهی سو .

هر کله چه کورته ورسیدی هغه لکی ئې واخیسته او پراور باندی‌ئې وچه کاڼکه کړه .

په هغه منی ، دې کرهنی ښه ژوندنسوای کولای ، ځکه چه خوارسواوڅه ئې نه درلوده ، نوئې وغوښتل‌چه خپل آس خرڅې کی نوپرآس سپورسواو بازارته راغی ناببره فریتاز تابه ویل د مخکی د منځه راووت پر ده پښې سواو پوښتنه‌ئې ځنی وکړه : «ښه ، زوړ ملګرې ، هغه مزه خودی راباندی خرڅه کړه ، نو اوس دی دا موزك را باندی خرڅې که . »

بزرګرځواب ورکی : «مجبوریم چوخرڅ ئې کم ځکه چه‌بله چاره نه‌لرم .» فریتازچه بزرګرلامخ راګرزاوه بیایوڅوزنګ زده پیسی د جیبه را کښلی وی . نووختی چه ئې غوښته آس بوزی ، ستیپازوویل که دآس لکی

ورکی ښه به وی ، نودغسی ئې د آس لکی ځنی پرېکړه او کورته راغی هغه لکی ئې یو ځای کښېښوولهچه کلکه سی .

ژمی راغی اوستیپاز ډېرخواراوبې وزلی سو ، نو به پخپله زنګله ته تی‌اوهوری به‌ئې لرګی‌شکوله ، یوه ورځ زنګله ته ولاړی او ښه دبانس لرګی‌ئې و شکوله او پر ګاډی ئې‌رابار کړه ، هر کله‌چه‌نزدې‌وکورته راورسېدی فریتاز په مخه ورغی اوورته وې ویل :«ملګرې ، چیری ځې ، اودا پروړدی وکمی خواته وړې ؟ که ئې پر ما باندې خرڅ کې زمادبوده و دپاره به ښه وی .»

ستیپازانکارنسوای کولای نوئې‌هغه د بانس ښا خلې په قیمت دپر وړو پر ده باندی خر څی کړې او پخپله کورته راغی .

یو کال تېرسو ، پس له یوه کاله ، چك چکه سوه چه فریتاز هغه لوی زمیند ارخوراسخت ناجوړه دی او دډاکترانو دواوهیڅ ښه نه کی . ستیپازهم ددې لوی بادار په ناجوړی خپرسو ، نوئې خورابنه کالی واغوستل او یوه تکه توره زیره‌ئې کښېښوولهه ، او یوښه آس ئې هم د خپل همسایه څخه وغوښتی ، نوپه دغه و نه ، سره له یوه بکسه دفریتازوکورته رهی‌سو. هلته چه ورغی وې‌ویل چه زه یولوی ډاکتریم او دپوری خواراغلی یم ، نو مریض ته نزدې کښېنستی‌وهغه‌ته ئې وویل چه ژبه راوباسه نو ئې ژبه ، ستونی ، اوسترګی و کتلې پس له هغه ئې امروکی چه حمام دتودکی ، حمام چه تودشو ، مریض‌ئې هوری وروړی . نودی اوهغه دواړه په حمام کی‌یوازی پاته سوه ، پس له هغه ئې د ده څخه کالی و کښل او لخ ئې کی . بیا نو ډاکتر د خپله بکسه څخه یو شی راوکښېښ او هغه ئې د مریض و مخ ته وغورځاوه اوپښتنه‌ئی ځنی‌وکړه : «دادی په‌یاد دی ؟» زمیندار جواب ورکی : «دغوایی لکی! »

ستیپاز بیا پوښتنه وکړه : «نوهغه مزه به دی په یاد وی چه‌دغوائی لکی‌یی درلوده؟» داپوښتنه‌ئی ځنی‌وکړه اوپس له هغه‌ئی نولکی باندی راواخیسته اوپه‌وهلوئی‌پیل وکی ، لکه خلك چه‌په‌حمام کی دوینو دوران په‌وهلو سره سمه وی .

ده هم هغه‌لکی ، لکه شلاخه باندی وشکوله . فریتاز چغاری کړی اوغلبلی‌ئی وهلی اوپه‌خپلو غلبلو کی‌ئی‌داویله :

«هوکی ، راپیاد سوه ، اوس می پیاد سوه !»

ستیپاز وویل : « اوه درپیاد سوه ! خورا ښه سو ، نو ددې پسه به غو یی ا و مزه سره پېژنی او نه به‌ئی غلطوې ! »

هغه جمله چه ئی وسر ته ور سوله ، نو دهغه کو ره راووتی اوبادارئی په‌خپلو غلبلو کښې ډوب‌پر ښود .

فریتا ز اریانی واخیست اودشرمه ئی وخلکو ته هم اصل‌حقیقت نسوای ویلای، تش دونه‌ئی وویل چه ډاکتر ئی مرض غلط کړی اوغلطه دوائی ورکړیده .

پس له‌یوڅو ورځو، ستیپاز یوه‌سره زیره کښېښوده، اینکی (عینك)ئی پرسترګو کښېښووی اویوه توره چپنه ئی واغوستله ، یوه ګاډی‌ئې کریهه کړه اودفریتاز کره ورغی ، هوری‌ئی ځان دغولدنګی په‌درووامه اویه‌اشارو اولاس ښورولوئی سړی پوهېول یعنی چه‌زما ددې ملك ژبه نه‌ده‌زده اودیوی لیری ځایه راغلی‌یم ، نوومریض‌ته کښېنستی ، پس له هغه چه ئی وکتی ، نوئی امر وکی چه دی بایدوشنو مخکو دباندی وایستل‌سی ، چه‌تازه‌هوائی نفس سازکی، دزمیندار چوپړوهم خپل بادارسم دهدایت سره دډاکتر دباندی وایستی : هلته نو ډاکتر کالی ځنی وکښل اودخپلی چپنی دلاندی ئی یوشی راوکښېښ اودده دمخه‌ئی وغورځاوه اوپښتنه‌ئی وکړه :

« ته پوهېږی ، چه داخه شی دی ؟ » زمیندار په رېږدېدو کښېووت اووې ویل : «دآس لکی .»

ستیپاز وویل : « نو ستابه په‌یاد وی چه یووخت دی یوموزك رانیوی چه دآس لکی ئی درلوده ؟» اوبیله هغه چه‌دده ځواب واروی پرشا باندی ئی دده په‌وهلو پیل وکی اوهغه په بغاروسو اوویل‌ئی : «هوکی په یادمی دی ! »

ښه سو ، نو پس له دی به آس اوموزك سره پېژنی اوپه دې به هم وپوهېږی چه هیڅوك په یو څو پیسو خپل آس نه خر څوی .»

داجمله‌ئی وویله اوپرخپله تړه رهی‌سو . پس له دی زمیندا روپېرېدی اودوباره‌ئی ډاکتر ځان‌ته‌نه پرېښووی نو هغه ښځی چه پال اچوی یا کو ډی کوی او نوری ساحری به‌ورته راتلې اوځنو به ګیاوی ورکولی منګردی تولو هیڅ فایده ونه ښندله . نو یوه ورځ ستیپاز ، خپله

زیره اوبرېتونه پاك وخرېل اودیوی ځادر نشینی ښځی کالی ئی واغوستله اویوشال ئی هم پرسر واچاوه ، لښتی ئی په غوږو کړې ، نودفریتاز کره راغی .

دی بزرگر چه ځان دښځی په جوله کړی ؤ وویل چه زه یوه اومشهوره ځادر نشینه کوډگره یم نو په دی پلمه فریتازته ورغی اودهغه ستر گی، ستونی اود لاسو ورغوی ئی وکتل پس له هغه ئی پتی (فته) په لاس ور کړی ، چه هغه دری واره سره گډی کړی نوئی ورته وویل چه هرچیری چه راځی ښائی چه دی هم ترشا په پسې وی نودا وزنگله ته راغله اوورته وی ویل چه دی به اوس دستی جوړ اوروغ خپل کورته ولاړسی اوښائی چه یوخو دکیکی (دقیقه) دلته ودریږی . داپخپله دزنگله منځ ته ولاړه اودهغه ځایه ئی خوښاخلی راوړی اودده وځی ته ئی وغورځولی بیائی نو پوښتنه ځنی وکړه : « داښاخلی دکمی ونی دی ؟ »

زمیندار وویل : « دبانس دونی » دښځی په ډوله بزرگورته وویل : « نو په یاد به دی وی هغه بانس چه دپروړو په شان وه ؟ » خپله پوښتنه ئی لاښه نه وه بشپړه کړې چه پرده ئی راواچوله اوداسی ئی وډباوه چه توله زنگل ئی غلبلو پرسرواخیست : « هو کی په یاد می دی په یادمی دی ، فریتاز ناري وهلې اوگډ ـ گډ کېدی اوښائی په لاسو پټوله . کرهنی وویل : « ها ! اوس نو ښه سو ، ورو وروته لایق سوې اوس نو پروړواو بانسو په فرق هم وپوهېدی ! اوبیابه وپوهېږې چه ښه بانس وبوده ؤ ته سړی نه اچوی . »

ستیاز خپلی خبری وپای ته ورسولی اوپرخپله تره ولاړ ، نودارنگه ئی هغه مغرور زمیندار پرېښود .

هر کله چه دفریتاز شاجوړه سوه ، دی سر له نوی ځوان او روغ رمتی سو ، هرچا تعجب کاوه چه یوه ساحره پیدا شوی ده چه فریتازئی جوړ کی ، منگر دکرهنواو بزرگرو خوشالی تر ټولو ډېره وه ځکه چه هیڅکله بیافریتاز ددوی بوده په نخه رانه نیول او ددوی اسان ئی موږ کان اوغوابی ئی مړی ونه بلل .

لندی

زړه می هوا کړی راته وائی
زړه می په هغه صنم مین دی
د زړه غوټی می پرې غوړیږی

چه شین طوطی شه لټوه د غرو سرونه
چه بوراگان ئی په باغو کښې لټوینه
خوشبونسیم چه می دیار له لور راشینه

«رشتین»

په پښتو ټولنه کښې لويه جرګه

په ۱٤ دسرطان دماپښين په۳ بجو دپښتو ټولنې په‌لوی صالون کښې «۷۰» تنه ادیبان او پوهان چه‌دپښتو ټولنې عمومی‌مدیریت راغوښتی وو، ټولنه او جرګه وشوه،ددې‌جرګې اوټولنې غرض داو، چه‌دپښتوټولنې نوی پروګرام خلکو ته‌معرفی‌شی اوپدی‌منځ کښې ددوی څخه‌دمرستی اوهمکاری امید، ښکاره‌شی، کوم‌وخت‌چه‌رابللی کسان داغونډ شول، نوع‌ع‌ش، محمد انور خان نایب‌سالار، دحرب دوزارت معاون چه د ملی ژبې دلمړومینانو څخه‌دی، دمطبوعاتو، ښاغلی رئیس‌له پلوه، ددې‌ټولنې په‌مشرتیا معرفی شو، اودارنګ ښاغلی رئیس دملی ژبې د ژوندی کولو اودحکومت دمقدس مرام اومطلب په باب کښې هم‌وبناوکړه، وروسته ترهغې ع‌ع‌ش نایب سالار، دټولنې دمشر په حیث یوه خوږه وینا وکړه، چه‌یه دغه وینا کښې دټولواد باو څخه دپښتو ټولنې دمرستی خواهش شوی و. درپسې ښاغلی‌عبدالرحمن‌خان‌پژواک دپښتوټولنې‌عمومی مدیر دپښتوټولنې‌نوی تشکیلات او هغه وظایف چه‌دپښتو ټولنې‌په‌غاړه ایښودل‌شوی‌دی، وښودل اودخپلې وینا په آخرکښې‌ئې‌بیادټولو ادباوڅخه ومرستی اوکومك خواهش‌وکړ. دښاغلی پژواك وینا په ځواب کښې دپرخلك پاسېدل؛ او دده تائیدئې‌وکړ.په‌تېره ع، ش پیر محمدخان‌فرقه‌مشر دپښتو او پښتونولی دژوندی کولو او دپښتنو داحساساتو دبیدار ولواو ساتلوپه باره کښې ښه ښه ټکی‌ښکاره کړل، اوښې‌ښې خبرې‌ئې دخلکو غوږ ونوته ورسولې، دا رنګ ښاغلی مولوی محمدابراهیم‌خان کاموی، ښاغلی محمدعثمان‌خان پښتون‌ښاغلی‌بلبل‌افغان‌ښاغلی‌محمداعظم‌خان‌ایازی هم‌خپلې‌نظرئې ښکاره کړې، داجرګه‌په‌پنځه‌بجې د مولوی صالح محمد خان د مرافعې قاضی‌په دعا او ورستی وینا پای ته ورسیده او خلك خپاره شول لکه چه معلومه ده، دا رنګ عمومی ټولنې به‌همیشه دپاره په پښتو ټولنه کښې کیږی.

دهرات دادبي مجلې لسم کال

دهرات . شریفه ادبي مجله چه ز موږ دګران هوادد ګټور واو مفیدو مجلوڅخه یو ه مجله ده اوس ئې خپله مطبوعاتي دنهم کال د و ره په بریالي توب سره وپای ته ورسوله، اود مطبوعاتي ژوندپه لسم کال کې ئې پښه کښېښوله .

موږ دنو موړی مجلې دا دلسم کال مبارکي وخپل فاضل همکار ښاغلي شایق هر وی رئیس اونورو کار کونکو ته وایو، او له لوی څښتنه ددوی دپاره ددوی دسپېڅلي مرام په لارکې ښه ترابریالي توب غواړو .

د ندای حرم رساله

دندای حرم میاشتنۍ رسا له چه په دیلي کې چاپیږي، په دې څونزدو ورځو کې ئې چه دلمړی کال پنځمه ګڼه دپښتو ټولنې د صحافت وڅانګې ته دتبادلې په ډول را رسېدلې ده یوه تاریخي، اقتصادي، علمي، مجله ده چه په (٤٦) پاڼو کې په مناسب حجم اوښکلي قطع دضیاوالدین احمدخان ترمدیریت اوکتنې لاندې په اوردو ژبه خپریږي .

موږ دد ې جدید التا سیس مجلې مبا ر کې داسلامي عالم وټولو مطبوعا تو ته اوپه تېره بیا وخپل فاضل هم مسلك ضیاؤالدین خان ته چه د نوموړی مجلې مدیر دی وایو، اوله مهربانه خدایه څخه ددوی ښه بریالي توب غواړو .

(د صحافت څانګه)

وښاغلي «تره کي» ته خدای په امانی

زموږ یوه ، فاضل ملګری ښاغلي محمد قدیر خان «تره کي» د کابل دمجلې دمخني مدیرخو به هرڅوك پېژني اودده ګټور آثار به هم هرچا په اخبارو، مجلو یا په مستقل ډول سره کتلي اولیدلي وي .

دی د ١٣ کلورا هیسی دمطبوعاتو په عالم کې ننه وتي اوددې پا کې خاوری دپاره ئې دقلم په څوکه ښه ښه خدمتونه کړي دي، په تېره بیا دده فلسفي ، اقتصا دي ، اجتماعي مضامین چه د کابل په مجلو کښې محترمو لو ستونکو لوستي دي، البته ښې ښې استفادې به ئې هم لحینې کړي دي.

هغه وخت چه دمطبوعاتو ریاست تشکیل شو، نو ښاغلي «تره کي» ددې مجلې دچلونکي (مدیر) په حیث وټاکل شواو تقریباً یونیم کال کېږي چه دې فاضل په خو را جدیت دامجله ترخپل قلم لاندې په ښه شان وچلوله، چه هغه به نوزموږ ولیکلو ته حاجت نه وی دده فضل د مجلو د پاڼو څخه څرګندېږي .

په دې روځو کښې چه دلوړ مقام په تجو یز دا ښاغلي داصلاح د روز نامې په مدیریت سرلوړی شوی دی ، موږ و ده ته په خو را احترام له دې اداري څخه (خدای په امانی) وایو - اوپه دې نوې وظیفه کښې ئې له لوی څښتنه څخه موفقیت غواړو -

اوهم بیاله خپل محترم ملګری (تره کي) څخه هیله لرو چه تراوس لا ښه دخپلې ملي ژبې سره مینه پیدا کړي ، لکه دلته چه ئې دپښتو دپاره ښه خدمت کاوه هلته به تر دغه لا ډېر کامیاب شي ، ځکه چه دامجله په میاشت کښې یوه پلانشر یدله ، مګر او س له ښه مر غه دا سی اخبار ئې په لا س کښې دی چه هر ه ر و ځ و ملت ته وړاندی کېږي ، نودستایلو وړ خدمتونه به ور ته وکړي

(د صحافت څا نګه)

د کابل کالنۍ ۱۳۱۹

اگر میل دارید کتاب خانهٔ خود را بوسیلهٔ یک کتاب مفید و قشنگی که دارای هر گونه اطلاعات علمی، ادبی، موضوعات مختلفهٔ علم زبان، اجراآت سنه ۱۳۱۹ دوائر دولتی و گراورهای زیبا و جالب دقت است زینت بدهید اگر میخواهید یک مقدار معلومات کافی بر ذخائر علمی تان افزوده شود و بالآخره اگر مائلید ترقیات محسوسی را در امور مملکتی در ظرف سال ۱۳۱۹ به بینید یک نسخه از (د کابل کالنۍ ۱۳۱۹) ابتیاع فرمائید.

قیمت: پشتی کپره، ۳۰ افغانی ۳۰ پول

〃 کاغذی ۲۲ 〃 ۲۵ 〃

محل فروش: مدیریت اجرائیهٔ ریاست مستقل مطبوعات.